شریعت

اونیزه

د افغانستان د طالبانو د اسلامی تحریك نشراتی ارګان

احمد شاه ((وحدت)) Ahmad Shah Wahdat

لومړی کال | اتلسمه ګڼه | دوشنبه د ۱۳۷۵ هـ ش کال دغويي (ثور) د مياشتی (۱۷) | د ۱۹۹۶ میلادی کال د می (٦) | د ۱٤۱٦ ق کال ذی الحجة (۱۸)

په مشکلاتو صبر وکړي او تقوي کوئ!

لوی خدای (جل جلاله) فرمایلی دی: ای هغو کسانو چی ایمان یی راوړی دی (ای مؤمنانو!) صبر کوئ (په طاعت ، مصیبت او له معصیته) او ټینګ اوسئ! په صبر (له دښمن سره په مقابله کښی) او محکم اوسئ! (په اسلامی سرحدونو کی) : او ویریږئ! له الله (جل جلاله) څخه ددی دپاره چی په مراد ورسیږئ (بریالی شئ!)

(آلعمران - ۲۰۰)

په جګړه کی ثابت قدم اوسئ!

له حضرت عبدالله بن ابی اوفی رضی الله عنه څخه روایت دی چی دالله رسول (صلی الله علیه وسلم) فرمایلی دی: «ای خلکو! له دښمن سره دمخامخ کیدلو (نښتی) تمنا مه کوی، له خدای (جل جلاله) څخه عافیت وغواړئ. خو کله چی ورسره مخامخ شوی (جګړه ونښته) نو صبر کوی (ثابت قدم اوسی) په دی پوه شی چی جنت دتورو ترسوری لاندی دی.»

(بخاری ، مسلم)

امیرالمؤمنین محمدعمر (مجاهد) د کشمیری مجاهدینو یو هیئت سره په کتنه کی:

هغه ورځ لیری نه ده چی د کشمیر خلك به د اسلام تر بیرغ لاندی سرلوړی ژوند پیل کړی

دهند وحشی پوځیان د کشمیر مسلمان خلك په ډیر ظالمانه توګه ځوروی

زمور خبریال دکندهار له ولایت څخه خبر راکوی چی په دی وروستیو شپو ورځوکی امیرالمؤمنین محمدعمر (مجاهد) د کشمیری مجاهدینو یو هیئت خپل حضور ته ومانه او له هغوی سره یی د کشمیر د مسئلی په اړه اووړدی او ګټوری خبری وکړی.

کشمیری هیئت امیرالمؤمنین ته د کشمیر د مجاهدینو د جهادی هلو ځلو په اړه معلومات ورکړل وی ویل: د هند وحشی پوځیان د کشمیر مسلمان خلك په ډیره ظالمانه توګه ځوروی، ځوروته یی سوځوی او مالونه یی لوټوی، خو مجاهدین له دی سره سره چی

(کشمیری هیئت)

(٤مخ)

دغزنی ولایت محترم مرستیال عارف الله (عارف) له شریعت اونیزی سره په مرکه کی:

په غزنی ولایت کی میشته قومونه، پښتانه، تاجك، هزاره او حتی هندوان د طالبانو د اسلامی تحریك مرسته کوی

د کابل اداره د روس، هند او غیر اسلامی هیوادونو د لاس اله ده، څکه یی افغانان مرسته نه کوی

ددی پوښتنی په ځواب کی چی خپل ځان لوستونکوته ورو پیژنی، محترم عارف صاحب وویل چی دده نوم عارف الله (عارف) د زرمت، پکتیا اوسیدونکی او اوس د غزنی ولایت د مرستیال په توګه مسئولیت لری.

ددی پوښتنی په ځواب کی چی د تنظیم طلبه حرکت انقلاب اسلامی افغانستان تر عنوان لاندی تاسی زیات شمیر طالبان رهبری کړی، اوس د طالبانو د اسلامی تحریك په لیکوکی د هغه څه ونډ دی! عارف صاحب وویل: چی د طالبانو د اسلامی تحریك د پیل کیدو سره سره، ددی خپلو ټولو ملګروته لاربنونه وکړه چی خپل ځان ګړی تشکیلات رنګ کړی او په افغانستان کی دیو مضبوط اسلامی حکومت د جوړیدو په منظور د طالبانو د اسلامی تحریك سره ملګری شی ځو په دی توګه په ټوله نړی کی دیوه ستر اسلامی دولت د جوړیدلو لاره هواره شی.

دیوی بلی پوښتنی په ځواب کی هغه وویل: «په غزنی ولایت کی چی د مرستیالی مسئولیت را په غاړه دی، دا دځان اسلامی مسئولیت ګڼم چی د خوارلس کلن جهاد مقدس اهداف د ترسره کولو د پاره به خپل ټول امکانات په کار اچوم. اسلامی شریعت به تطبیق کوو، د ځوریدلو او مظلومو افغانانو اوښکی به د عدالت په رعایت کولو وریاکوو. یوی بلی پوښتنی ته په ځواب کی هغه وویل چی د غزنی ولایت اکثره اداری فعالی دی لکه اداری ریاست، مستوفیت، (صفحه ٤)

دتخار په خواجه غارکی روسانو له المونیم څخه نوی هوایی ډګر جوړوی

له تخار ولایت څخه زمور خبریال خبر راکوی وهغو دوامدارو ګاسرتو او تلو راتلو په نتیجه کی چی د مسعود کسان یی له روسانو سره لری په دی وروستیو وختونو کی دی موافقی ته رسیدلی دی چی دهغه ولایت په خواجه غار کی له المونیم څخه یو هوایی ډګر جوړ کړی.

خبریال زیاتوی چی په هغه کی پوځیل د تخار والی د تاجکستان کلاب ته ځی او هلته له روسانو سره سلا مشوری کوی (٤مخ)

مؤظفین ریاست احتساب (۱۰٥) بوری چرس رادر قندهار کشف وضبط نمودند

خبرنګار ما از قندهار خبر میدهد که:

بتاریخ ۱٥/۲/۱۳۷٥ هـ ش (۱۰٥) بوری چرس در قندهار از طرف مؤظفین ریاست احتساب در حالی کشف و ضبط ګردید که از یك محل به محلی دیګری انتقال میافت که در اثر تلاش مؤظفین کنترول عراده جات ریاست احتساب کشف ګردید و عاملین قضیه تحت بازپرس قانونی قرار ګرفته اند.

دنیکمرغه لوی اختر په مناسبت امیرالمؤمنین محمدعمر (مجاهد) ته دمبارکی پیغامونه

له کندهار څخه د شریعت اونیزی خبریال خبر راکوی چی د هیواد له ګوټ ګوټ اوله هیواد څخه بهر د میسلمانانو له خوا د نیکمرغه لوی اختر (٤مخ)

دغور ولایت ټولی ولسوالی دروسانو او هندوانو له مزدورو ملیشو څخه پاکی شوی

دغور له ولایت څخه زمور خبریال خبر راکوی چی د هغه ولایت په ټولو مربوطو ولسوالیو کی د طالبانو د اسلامی غورځنګ د ځواکونو تصفیه په بری سره سرته رسیدلی او دهغه ولایت ټولی ولسوالی د روسانو او هندوانو له مزدورو ملیشو څخه پاکی شوی دی.

خبریال زیاتوی دغو مزدورو ملیشو چی دسیمی د خلکو د وژلو او ځورولو لپاره کرمی وسلی او مهمات د کابل له تش په نامه ادار څخه ... وو د طالبانو د اسلامی غورځنګ د مجاهدینو لاس ته ورغلل او عاملین یی یا ووژل شول او یاهم د اسلامی قانون منګولوته ولویدل او اوس د غور ولایت مسلمان خلك په امن او سکون سره خپل ژوند ته دوام ورکوی.

خبریال زیاتوی چی انشاء الله تر دغو تصفیوی عملیاتو وروسته به ډیر ژر د طالبانو د اسلامی غورځنګ سپاهیان دغور مرکز چغچران ته داخل شی او په دی توګه به ټول ولایت له شر او فساد څخه پاك کړی.

د (کی جی بی) یو جاسوس احمد شاه مسعود ته پناه یووړه

د بدخشان له ولایت څخه یو باوری خبرځای خبر راکوی چی په څو تیرو میاشتوکی په هغه سیمه کی د تاجکی مجاهدینو (۱٦) تنه افراد په پرله پسی توګه پی درکه کیدل او دا پته نه لګیده چی دوی د چا له خوا بی درکه کیږی.

خبرځای زیاتوی چی له دوامدارو او پرله پسی هلو ځلو وروسته دا ثابته شوه چی د رضوان په نامه د (کی جی بی) یو تن جاسوس په چالاکی سره د دوی په لیکوکی ځان ځای کړی او بیایی د مسلمانانو په وژلو لاس پوری کړی دی.

کله چی رضوان د (کی جی بی) د جاسوس په توګه وپیژندل شو نو هغه احمدشاه مسعود ته پناه یووړه او اوس په پوره امنیت سره خپل ژوند ته دوام ورکوی.

طالبانو نه یوازی د افغانانو عزت وساته بلکی په ټوله اسلامی نړی کی یی د علماء کرامو شمله هسکه کړه

(مولانا حمدالله جان داګی)

موږ له هر چاسره خبروته تیار یو، خو ربانی دخپلی واکداری مشروعیت له لاسه ورکړي او هیڅکله په وعده وفانه کوی

(امیرالمؤمنین محمدعمر مجاهد)

زمور خبریال له کندهار څخه خبر راکوی چی پرون د یکشنبی په ورځ د ثور په ۱٥ نیټه د صوبه سرحد مشهور عالم او شیخ الحدیث مولانا حمدالله جان د علماوو دیوه هیئت په مشری د پاکستان د صوبه سرحد مشهور عالم شیخ الحدیث مولانا حمدالله جان له خپل ملګری هیئت سره د امارت په دفتر کی له امیرالمؤمنین محمدعمر (مجاهد) سره وکتل.

کندهار ته ورسید او د امارت په دفتر کی یی له امیرالمؤمنین محمدعمر (مجاهد) سره وکتل.

ددی کتنی په جریان کی شیخ الحدیث محترم مولوی حمدالله جان (٤مخ)

تحریك اسلامی طالبان سفر اخیر هیأت خود را به ایران خیلی موفق آمیز خواند

هیأت در سفر خود به ایران به توافقات مهم و با ارزش دست یافت

در این اواخر یك هیأت تحریك اسلامی طالبان به ریاست محترم ملایارمحمد اخند والی هرات یك سفر دوستانه به ایران داشتند دراین سفر جناب والی هرات را ذوات آتی همراهی میکروند: آقای وسوقی از جمله، علماء اهل تشیع هرات، مولوی قیام الدین بدخشانی، شاروال هرات محترم عبدالولی، مسؤل ارتباط خارجه، ولایت هرات محترم مولوی نورمحمد (هلمندی)، خطیب مسجد جامع هرات (مولوی هیبت الله) مفتی عبدالحق (هراتی) و آمر سیاسی قول اردوی نمبر ٤ هرات ملا شاغاسی.

خبرنګار ما میګوید که در این سفر هیأت افغانی با مقامات ذی صلاح ایرانی ملاقاتهای مختلف روی موضوعات ذی علاقه طرفین داشتند که در نتیجه به توافقات آتی دست یافتند:

۱- طرفین به سرحدات بین دو کشور احترام میورزند که به این ارتباط طرف ایران متعهد ګردید که به هیچ کس اجازه نمیدهد که از خاك ایران بر افغانستان تجاوز نماید.

۲- جلوګیری مشترك از مواد مخدره.

۳- بازګشت مهاجرین به کشور به رضا، و

د اسلامی حزب یو شمیر قوتونه کابل ته ورسیدل

د لغمان ولایت او دکابل د سروبی له ولسوالی څخه د شریعت اونیزی خبریال خبر راکوی چی د ثور په ۱٤ نیټه د اسلامی حزب ملیشه ځواکونه د احمدشاه مسعود له ملیشی سره دیوځای کیدو په غرض کابل ته وخوځیدل.

خبریال زیاتوی له دی ملیشه یی قواوو یو شمیر ټانکونه او نوری ووړ ووړ درندی وسلی کابل ته ولیږدول شوی، کله چی دغه قواوی په ځرخی پله کی د کال د اداری د ملیشی لومړیو کرښوته ورسیدی د مسعود د ملیشه یانو له خوا ترو هرکلی ورته وویل شو.

ویل کیږی چی دحزب دغه تازه دم ملیشه یی قوتونه به د طالبانو د اسلامی غورځنګ له قوتونو سره د مقابلی په غرض په هغو لومړیو کرښو کی ځای پر ځای کیږی چی دکابل تش په نامه اداره ورڅخه د خطر زیات احساس کوی. دیادونی وړ ده چی څه موده مخکی د حزب یو شمیر قوتونه په لومړیو کرښو کی ځای په ځای شوی دی.

یو غل بندو په شا ونیول شو

له کندهار څخه زمور خبریال خبر راکوی چی د شنبی په ورځ د ثور په ۱٤ نیټه د غرمی په دوولسو بجو یو غل په داسی حالت کی ونیول شو چی د غلا د سامان بندیی په شا او غوښتل یی چی خپل کورته یی یوسی.

خبریال زیاتوی چی د کندهار د امنیت مؤظفینو پنځه شا غل امنیه قوماندانی ته وسپاره تر څو د خپل عمل جزا ووینی.

د کندهار امنیه قوماندانی تر تحقیق وروسته د سامان خاوند ته خبر ورکړ چی د خپل کور د فرش، او سامان د ترلاسه کولو لپاره کولای شی امنیه قوماندانی ته ورسی. غل تر تحقیق لاندی دی او د تحقیق تر بشپړیدو وروسته به د شرعی جزا لپاره مربوطه څانګی ته وسپارل شی.

شهادت جوهر دودایوف را به ملت مسلمان چیچین و همه، امت اسلامی تبریك و تسلیت میګوئیم

تحریك هدفمندی به شهادت یك تن خاتمه نمییابد

بعد از قیام نظام اسلامی در افغانستان با برادران چیچنیائی خود علیه روسها شانه به شانه خواهیم جنګید

تحریك اسلامی طالبان (پشاور)

خبرنګار ما خبر میدهد که:

نماینده ګی صوبه سرحد تحریك اسلامی طالبان خبر شهادت جوهر دودایوف رهبر مجاهدین چیچین را تکان دهنده و مصیبت آور تلقی داشته تأثر عمیق خود را به این ارتباط نشان داده افزودند: تحریك هدفمندی به شهادت یك تن خاتمه نمییابد هرګاه که در صفوف جهاد و مقاتله خون بزرګان ریخته است نوید پیروزی جهاد و تحریکها را باخود آورده است، ما یقین داریم که بعد از شهادت دودایوف هر فرد مسلمان چیچنیائی جوهر دودایوف بوده و همچون او به فداکاری و ایثار آماده میباشند. شهادت جنرال شهید نشان دهنده، این حقیقت است که جهاد مردم مسلمان چیچین برای یك هدف مقدس بوده نه برای حصول مقام و چوکی جهاد افغانستان اتحاد شوروی را متلاشی ګردانید. ان شاء الله جهاد چیچین متباقی روسیه را متلاشی و ذلیل خواهد کرد. ما در حالیکه شهادت جنرال دودایوف را به ملت مسلمان چیچین و همه، امت اسلامی تبریك و تسلیت عرض میکنیم به برادران مجاهد چیچنیائی خود اطمینان میدهیم که ما با شما هستیم و با شما خواهیم بود و بعد از قیام نظام اسلامی در افغانستان با برادران چیچنیائی خود علیه روسها شانه به شانه خواهیم جنګید و ما را در میدان پیکار در چپ و راست خود برادر وار مشاهده خواهید کرد. ان شاء الله.

د خوست ولایت مخابراتی او تیلیفونی سیستم فعال شو

په هغه ولایت کی د امر بالمعروف او نهی عن المنکر اداره پرانستل شوه

له خوست څخه زمور خبریال خبر راکوی چی د تیری یکشنبی په ورځ د ثور په اته نیټه د هغه ولایت په مرکز خوست کی د امر بالمعروف او نهی عن المنکر اداره دمولوی غلام سخی په مشری جوړه شوه او خپل کاریی پیل کړ.

خبریال زیاتوی چی د جوماتونو د چارو ولایته انسجام لپاره دهر جامع جومات لپاره اته تنه مبلغین وټاکل شول تر څو عامو خلکوته د امر بالمعروف او نهی عن المنکر په اړه معلومات ورکړی.

همدارنګه دغی اداری د خوست خلګوته وویل چی د جمعی د لمانځه په وخت به دټاکلی وخت لپاره خپل دوکانونه تړی او نور ورځنی کارونه به دروی تر څو دلوی خدای (ج) په دربار کی په شریکه د اسلام د سرلوړی او دوطن د آبادی او سوکالی دوعا وکړی.

له خوست څخه زمور خبریال په یوه بل خبر کی خبر راکوی چی په هغه ولایت کی مخابروی سیستم چی د تیرو ګډوډیو له امله تخریب شوی اوله منځه تللی و فعال شوی او د ولایت له ټولو ولسوالیو او علاقداریو سره تیلیفونی او مخابروی ارتباط ټینګ شوی دی.

سرمقاله

اګر تحریك اسلامی طالبان امن و استقرار را نمیخواهند که میخواهد؟

کسانیکه بخاصیت طالبان علوم دین بلدیت دارند به آسانی میفهمند که طالب علم دین بعد از محبت خداوند تعالی و پیامبر او صلی الله علیه وسلم بجز درس و کتاب محبوب و مقصود دیګری ندارند، چه بسا که در استغراق این محبت پاك از مرګ پدر و برادر بفاصله، یك ولایت تجاهل نموده و خود را بی خبر نشان داده است، این مطلوب محبوب را هیچ بدیل و عوض نمی شناسد الا وقتیکه صدای جهاد ، امر بمعروف و منع از منکر و آواز دفع فتنه و فساد بشنود.

از اینجا بود که بمجرد صدور فتوا و آغاز جهاد پیشاپیش همه برادران مجاهد با همه ذوق بجهاد عملی آغاز و با دیګر برادران مجاهدش غازی و شهید یا معلول و اسیر دشمن ګشت (انا لله...)

انانیکه زنده ماندند بعد از شکستاندن کمونیستها و امحای هسته، آن (اتحاد شوروی) دوباره بسوی محبوب اولی (درس و کتاب) برګشتند تا آنکه دعوا داران کاذب اقامه نظام اسلامی- آنهم بر نهج خلافت راشده (!)- قتل و غارت، فتنه و فساد را بجای کشیدند که خود فساد و فتنه از آن شرم میکرد و عار میدانست؛ پس ناچار طالبان علم دین بار دیګر مقصود و مطلوب خود (درس و کتاب) را بخاطر دفع فساد در طاق مسجد ګذاشته بانظم و ترتیب و عزم راسخ وارد میدان ګردیدند و بفضل و کمك خداوند تعالی بیش از نصف مملکت اسلامی و هموطنان مسلمان خویش را از شر و لوث شرانګیزان و فساد پیشه ګان تصفیه و احکام شریعت پاك را عملی و به پیش میبروند. بعون الله تعالی.

پس اګر اوشان صلح و ثبات، تأمین عدالت و امن عامه و اقامه، نظام اسلامی را نمی خواهند که میخواهد؟ آیا آنهائیکه اهداف بدست آمده و بخون پاك خریده، جهاد را زیر پا و برهم زده، فساد را به تمام انواع آن برپاداشته و یا زمینه را برای آن مساعد ساخته بودند؟

آیا آنانیکه بعد از شکست کمونستها مدت سه سال در اکثر نقاط مملکت و بالخصوص در پایتخت کشور صحنه دوزخ را تمثیل و هیزم آن را از مسلمانان افغانستان و باروت و آهن روس و امریکا فراهم می کردند؟

آیا آنانیکه در طول بیش از پانزده سال جهاد مجاهدین قهرمان، این فرزندان اصیل اسلام و افغانستان را به بهانه تسخیر این مرکز و آن مرکز، به بهانه نشر اوراق تنظیم و نصب فوتوهای امیر صاحب و...؛ باهم بکشتار و تباهی قوماندہ میکردند، برای تشجیع و توجیه این کشتار ناروای فرزندان اسلام در سخنرانیهای پر طمطراق و در هیاهوی نعره های زنده باد و مرده باد میګفتند: (... جنګ در میان مجاهدین نی بلکه در بین ملیشه (طرف مقابل) و مجاهدین «افراد خودش» جنګ است) در حالیکه در اغلب همان جنګها افراد یك جهت معین بطور دایم در ګیر می بودند؛

آیا آنها صلح میخواهند که در طول مدت جهاد علمای کرام و (۲مخ)

په هلمند او لوګر کی دوه تنه قاتلان قصاص کړای شول

له هلمند څخه زمور خبریال خبر راکوی چی په هغه ولایت کی یوتن قاتل چی ځلورتنه بی ګناه مسلمانان یی وژلی وو د اسلام د اصولو له مخی د خپل عمل په جزا ورسول شو.

خبریال زیاتوی چی د هلمند په ولایت کی د طالبانو د اسلامی غورځنګ امنیتی افرادو یوتن هغه قاتل ونیو چی ځلورتنه بی ګناه مسلمانان یی وژلی وو، هغه یی د شرعی جزا لپاره شرعی محکمی ته وسپاره او شرعی محکمی د شواهدو او ثبوتونو په رڼا کی شرعی حد وربانندی تطبیق کړ.

همدارنګه زمور خبریال د لوګر له ولایت څخه په یوبل خبر کی وایی چه د هغه ولایت د چرخ په ولسوالی کی یوتن قاتل محمد عزیز چی دین محمد یی په ظالمانه توګه وژلی و دهغه ځای امنیتی ځواکونو ونیو او دقانون منګولو ته یی وسپاره. (٤مخ)

د مسلمانی عقیده

دوهم مخ

په افغانستان کی داسلام ځلاند تاریخ ته یوه لنډه کتنه

دوهم مخ

اسلام دملت پالنی په ځای اسلامی امت جوړوی

دوهم مخ

خدمات دینی و اجتماعی علماء در تاریخ معاصر کشور

نخستین جنبش فکری «سراج الاخبار»

(دوهم مخ)

یا الله ! حج بی مقبول کړی!

(ص سوم)

څه ډول سوله ؟

(دریم مخ)

امیرالمؤمنین په څوارلس کلن جهاد کی د علماؤ، سپین ږیرو او قامی مشرانو هلی ځلی او قربانی وستایلی

موږ نه یوازی د طالبانو د اسلامی تحریك له اجرأتو نه خوشحاله یو بلکی په دی لاره کی د هر ډول قربانی وعده درکوو

(مولوی ولی الله)

هغه خلك چی شر او فساد یی خپل کسب ګرځولی و د طالبانو د اسلامی غورځنګ له برکته له منځه ولاړل

(وکیل عبدالله)

له کندهار څخه زمور خبریال خبر راکوی چی امیرالمؤمنین محمدعمر (مجاهد) د زابل ولایت د شهر صفا د ولسوالی د علماو، سپین ږیرو او قومی مشرانو یو هیئت د کتنی لپاره ومانه.

خبریال زیاتوی چی د کتنی په پیل کی د عظیم الشأن قرآن څو مبارك آیتونه ولوستل شول وروسته امیرالمؤمنین په څوارلس کلن جهاد کی د علماء کرامو، سپین ږیرو او قامی مشرانو هلی ځلی او قربانی وستایلی او هغوی ته یی د دین او وطن د خدمت په لارکی د لازیاتو هلو ځلو د دوام لپاره له لوی خدای (ج) څخه د توفیق غوښتنه وکړه.

خبریال زیاتوی چی د امیرالمؤمنین له وینا وروسته د شهر صفا د هیئت په نمایندګی ولی الله پخپله وینا کی وویل: موږ د شهر صفا د مسلمانانو خلکو په نمایندګی تاسو او مسلمان ملت ته د امیرالمؤمنین په توګه ستاسو د انتخاب له امله مبارکی وایو او واړ درکوو چی زموږ د ولسوالی اوسیدونکی نه یوازی (٤ مخ)

شریعت

د امتیاز خاوند : د افغانستان د طالبانو اسلامی تحریک
د تاسیس کال : ۱۳۷٤ هـ ش
د لیکوال هیئت تر کتنی لاندی
مسؤول مدیر : الحاج مولوی احمدجان
تیلفون : ۸٤۰۳۷۸
آدرس : په پیښورکښی دطالبانو د اسلامی تحریک نمایندګی
دیوی ګڼی بیه : په هیواد کښی (۳۰۰) افغانی، په پاکستان کښی (۳) کلداری

سرمقاله ...

مسلمانان مخلص و دل سوز بخاطر وحدت کلمه و جلوگیری از این وضع اسفناك و درد انگیزی که از چهار سال بر کشور مسلط است نام الله تعالی و نام پیغمبرش صلی الله علیه وسلم و قرآن عظیم را بار ها به اوشان شفیع می کردند و همین آزار زدگان هیچ نپذیرفتند؟

آیا آنانیکه به سعی و تلاش های پی گیر مسلمانان کشور و همه امت اسلامی برای سازماندهی اتحاد اسلامی مجاهدین افغانستان استعفا ها از سر براهی تنظیم اعلان و با یکی از هم مسلکان خود شان بیعت کردند، همه انواع تعهد و حلف و میثاق را بیرون کعبه شریفه و درون آن بجا کردند ولی اینهمه مقدسات را بخاطر حب جاه و مال زیر پا کرده یگانه مرجع امید های مسلمانان رنج دیده، افغانستان و همه امت اسلام (اتحاد اسلامی مجاهدین) را به همدستی دو رقیب برجسته، آن روز و این روز از میان بردند لیدر شپ اولی و تنظیم کاری را برای ادامه، رقابتهای منحوس گروهی سر از نو گرفتند؟

آیا آنهائیکه با این همه سوابق آلوده و تاریك یك بار دیگر برای یك نمایش تباه کن و هولناك باهم صحنه، نو میسازند، کرسی های حکومتیکه هنوز تخم آن سر نزده است فقط میان دو گروه مربوط به دو رقیب کهنه کار میدان (بُرد و باخت) توزیع میکنند و دوستان هم آهنگ و موافق را به توزیع کرسی های وعده و قول خوش نگهمیدارند تا قبل از وقت به اهداف زیر پرده پی نبرند؟

اگر باز هم اینها با این همه سوابق تلخ و معلوم مشکل را حل میکنند و به راستی در تلاش مخلصانه به همرنگی قول و عمل جویا و پویای اقامه نظام اسلامی و تأمین امنیت باشند و یا شوند، زهی بخت بیدار و طالع نیك مسلمانان! بارك الله فیه، والا به آنچه شاعر حکیم علامه اقبال(رح) گفته اند: اعتراف باید بکنند.

تخم دیگر بکف آریم و بکاریم زنو
کانچه کشتیم ز خجلت نتوان کرد درو

اگر تحریك اسلامی طالبان با این همه توان و امتیاز نفاذ احکام شریعت، تأمین امنیت و استقرار، ازاله، فتنه و فساد که واقعیت های ملموس و مشهود، حقیقت های عینی و نفس الامری است در مجالس احتمالی آینده سر براهان تنظیم ها شریك هم نشوند و حل واقعی مشکلات که در خور اطمینان باشد بمیان آید نه تنها مشکلاتی در راه آن ایجاد نمیکنند بلکه با همه توان در تائید آن خواهند کوشید.

در این روزها یکی از شخصیت های معروف سیاسی در راه حل مشکلات مسلمانان افغانستان سعی و تلاش میورزند، رفت و آمد، دید و وادید را بعمل می آورند اگر بخلاف نظر سابق شان که در تائید و تقویه یك جهت مشخص و ملحوظ نظر شان همه تن سعی و تلاش و پیکار و مبارزه بودند و اکنون به اخلاص و نظر عام و همه گانی در این راه گام بر میدارند مورد تائید و بنظر احترام می نگریم.

حسن توفیق خداوند تعالی رهنمای شان و همه، ما باد

د مسلمانی عقیده

غازی خیل

شپارسمه برخه

په کوفه کی:

۱- علقمه بن قیس النخعی فقیه العراق رحمة الله تعالی علیه د رسول الله صلی الله علیه و آله وسلم په ژوند کی زیږیدلی دی، له عمر، عثمٰن، علی او ابن مسعود رضی الله تعالی عنهم څخه یی علم اوریدلی دی، مګر د ابن مسعود(رض) په ښوونه فقیه ګرځیدلی دی دده(رض) له پوهو او اوچتو شاګردانو څخه دی، له ابن مسعود(رض) څخه روایت شوی دی چی ویل به یی: «زه چی څه لولوم او په څه پوهیږم علقمه هغه ټول لولی او زده یی دی».

قابوس بن ابی ظبیان ویلی دی چی ما خپل پلارته وویل چی څرنګه د علمی معلوماتو لپاره اصحابو کرامو (رض) ته نه ورځی او علقمة ته ورځی! هغه راته وویل: ما اصحابان(رض) لیدلی دی چی علقمة ته به ورتلل پوښتنی به یی ورڅخه کولی او فتوابه یی ورنه اخیسته.

ذهبی(رح) ویلی دی چی: دی(رح) فقیه، امام، په قرائت کی ډیر خوش آوازه د علم په نقلولو کی ښه ثابت، دخیر او پرهیز ګاری خاوندو، په ښه خوی، وقار او علم کی ابن مسعود(رض) ته ورته ؤ، په ٦٢هـ کی وفات شوی دی رحمة الله تعالی علیه.

۲- مسروق بن الاجدع الهمدانی، فقیه اوله لویو علماوو ته ؤ رحمة الله تعالی علیه علم یی له عمر، علی او ابن مسعود رضی الله تعالی عنهم څخه زده کړی، له شریح قاضی(رح) نه به فتوا ښه پوهیده، شریح(رح) به مشوره ورنه اخیسته او دی شریح(رح) ته اړنه ؤ، په ٦٣هـ کی وفات شوی دی رحمة الله تعالی علیه.

۳- عبیده بن عمرو السلمانی المرادی رحمة الله تعالی علیه، د فتحی په کال په یمن کی په اسلام مشرف شوی دی، علم یی له علی او ابن مسعود رضی الله تعالی عنهما څخه زده کړی دی، شعبی(رح) ویلی دی چی له شریح (رح) سره په قضاء کی یو رنګه ؤ، په ۹۲هـ کی وفات شوی دی رحمة الله تعالی علیه.

٤- اسود بن یزید النخعی دکوفی لوی عالم او د علقمه(رح) ورازه رحمة الله تعالی علیه له معاذ، بن مسعود او نورو رضی الله تعالی عنهم څخه یی علم زده کړی دی او په ۹۵هـ کی وفات شوی دی رحمة الله تعالی علیه.

٥- شریح بن الحارث الکندی رحمة الله تعالی علیه حضرت عمر رضی الله تعالی عنه په کوفه کی قاضی مقرر کړ او بیا حضرت علی رضی الله تعالی عنه په دغه منصب مقرر کړی دی او له مرګ نه یو کال مخکی یی استعفاء وکړه، بل داسی قاضی څوك نه پیژنی چی شپیته کاله قاضی پاته شوی وی، علم یی له عمر، علی او ابن مسعود رضی الله عنهم څخه زده کړی دی، په ۷۸هـ کی وفات شوی دی رحمة الله تعالی علیه.

٦- ابراهیم بن یزید النخعی د عراق فقیه رحمة الله تعالی علیه، له علقمه، مسروق او اسود او نورو رحمة الله تعالی علیهم نه یی علم زده کړی دی. دی مشهور فقیه حماد بن سلمه(رح) ستاذ ؤ- دی له مخلصینو علماوو څخه ؤ، شهرت یی نه خوښاوه.

سعید بن جبیر(رح) ویلی دی چی تاسی له مانه فتوا غواړی(!) په داسی حال کی چی ابراهیم دتاسی په منځ کی دی، ابراهیم(رح) به علمی خبره نه کوله مګر هله به یی کوله چی چابه پوښتنه ورڅخه وکړه، په ۹۵هـ کی وفات شوی دی رحمة الله علیه.

۷- سعید بن جُبَیر دوالبه آزاد کړی رحمة الله تعالی علیه له ابن عباس، ابن عمر، او نورو رضی الله عنهم څخه یی علم زده کړی دی، ابن عباس(رض) به د حج په وخت دکوفی خلکوته ویل چی کله به هغوی علمی پوښتنه ورڅخه وکړه: «آیا په تاسی کی سعید بن جبیر نشته؟» سعید(رح) بخپل حضور کی څوك غیبت کولوته نه پریښودل، میمون بن مهران رحمة الله علیه ویلی دی چی سعید بن جبیر(رح) وفات شو او د ځمکی په مخ داسی څوك نشته چی دده علم ته اړنه وی، د ابن اشعث د شورش په وخت په ۹۵هـ کی حجاج بن یوسف شهید کړ، رحمة الله تعالی علیه.

۸- عامر بن شراحیل شعبی د تابعینو علامه رحمة الله تعالی علیه د حضرت عمر فاروق(رض) په خلافت کی په ۱۷هـ کی زیږیدلی دی، امام، حافظ، فقیه او د علمی فنونو خاوند ؤ، له حضرت علی، ابی هریره، ابن عباس، ام المؤمنین عائشی صدیقی، ابن عمر او نورو رضی الله تعالی عنهم څخه روایتونه کوی، د امام ابو حنیفه(رح) دلویو استاذانو نه دی، د کوفی قضایی هم کړی ده، ډیرو تابیعنو(رح) دده مدحه ویلی ده، له ده نه روایت دی چی لږتیو صالحینو(رض) د ډیر حدیثونو روایت نه خوښاوه که زه په هغه څه له پیله پوه شوی وای چی وروسته پوه شوم نوما به یوازی دهغو حدیثونو روایت کړی و چی ټول محدثین پری متفق دی، ابن عون(رح) ویلی دی چی کله به شرعی پوښتنه رامنځ ته شوه نو شعبی(رح) به ځان ورنه ګوښه کاوه او ابراهیم نخعی(رح) به تقریر پکښی کاوه، له ده نه روایت دی چی موږ فقهاء نه یو مګر حدیثونه مو اوریدلی او دهغو روایت مو کړی دی، ده به قیاس نه خوښاوه، په ۱۰٤هـ کی وفات شوی دی رحمة الله تعالی علیه.

په افغانستان کښی د اسلام ځلاند تاریخ ته یوه لنډه کتنه

نعمانی

درېیمه برخه

د اسلام په لومړی قرن کښی د قومونو تر منځ د افغانستان سیاسی ویش:

د اسلام په لومړی قرن کښی افغانستان د شپږو لویو کورنیو او څه وړو وړو کورنیو تر منځ ویشل شوی وو دلته به د غونی په ټول شپږ سیمی او د هغو واکمنان درته یاد کړو:

۱- په سیستان (نیمروز) او په زابلستان باندی درتبیلیانو کورنی حاکمه وه.

۲- په کابلستان باندی د کابلشاه کورنی چی په کابلیانو یادیدل حاکمه وه.

۳- په مرکزی افغانستان او په بامیانو باندی بامیه کورنی حاکمه وه.

٤- په غزنی او ګردیز او جنوب په نورو علاقو باندی دلویکانو کورنی حاکمه وه.

٥- په تخار، فاریاب، جوزجان او په سمنګانو باندی تګینیه کورنی حاکمه وه.

٦- په غورات، بادغیس او هرات باندی غوری کورنی حاکمه وه.

په شرقی منطقو د نورو وړو، وړو کورنیو ملوك الطوائفی وی چی ټنټی افغانستان په اوولسو۱۷ برخو ویشل شوی وو. پدغه وخت کی داصحابو او تابعینو(رض) فوځ ورننووت چی دغه پورتنی تقسیم یی دری وری کړ او په ډیر لږ وخت کښی یی شمالی افغانستان او شمال لویدیز ولایتونه ونیول او جنوب لویدیز ولایتونه هم څو څو ځل فتح شول په ځانګړی دار چی سیستان فتح شو هلته دحضرت سیدنا علی کرم الله وجهه او د حضرت سیدنا معاویه رضی الله عنه تر مینځ څه اجتهادی اختلافات راغلل چی د هغو اختلافات دواړوته متعال خدای(ج) عفو کړیدی او دواړه ددی حدیث مصداق ګرځیدلی دی چی جناب نبی کریم صلی الله علیه وسلم فرمایی:

للمجتهد المصیب اجران و للمخطی اجرٌ واحدٌ هلته چی څه تیر شویدی هغه په دیانت او په تقویٰ بناوو په شخصی ګټو او په اقتدار هیڅ جنګ ندی شوی په هغه حالت له زیات بحث او حیرنی څخه قلم او خوله ژغورل پکار دی او د حضرت مولانا عبدالحق محدث دهلوی هغه سه وینا راته مخی ته شوه چی فرمایلی دی حوك چی صحابه(رض) په سپکه یاد کړی متعال خدای(ج) یی خامخا سپکوی په امت کښی چی حیثر پرهانو صحابه کرام(رض) په سپکه یاد کړیدی هغوی د امت په وړاندی سپك او ذلیل شویدی او مثال یی دی ته ورته دی چی دیو نیك او صالح عالم مور او پلار او یا نیکه کوم خطا کار کړی وی او دی په یوه اجتماع کښی ودریږی او بیانوی یی، آیا دی به ټولو خلکوته سپك نه ښکاری؟ بلی دی به د چرګی له ښی نه هم سپك ښکاره شی! مونږ، لکه څرنګه چی متعال خدای(ج) له هغه زمانی څخه ژغورلی یو او هلته نه یو پیدا شوی باید چی خپلی خولی او قلمونه هم ددی څخه وساتو چی په هغه حالت څه تبصری ولیکو اعاذنا الله من ذلك.

د هغو اجتهادو اختلافاتو لازمی نتیجه دا راووتله چی په اسلامی فتوحاتو هم منفی اغیزیووت او اسلامی فتوحات وځنډیدل پدی لږ کښی سیستان (نیمروز) هم د مسئولو قوماندانانو څخه خالی شو ولی د صفین د جنګ په موقع حضرت سیدنا معاویه رضی الله عنه وکولای شول چی حضرت عبدالرحمن بن سمرة رضی الله عنه دی ته راضی کړی چی د افغانی خراسان د جنوب لویدیز او د جنوبی سیمی دوالی په توګه یی واستوی، هغه وو چی د زیات شمیر باتور اسلامی جنګیالی فوځ په ملتیا چی د اسلامی امت جید علماء کرام تابعین عظام لکه حضرت عباد بن حسن (رح) او حضرت حسن بن یسار البصری(رح) هم ورسره ملګری وو د سیستان په لورو خوزیدل تر څو پورمبی دینی قاعده له عسکری قاعدی سره یله پوری تشکیل او تنظیم کړی، هغه وو چی حضرت عبدالرحمن بن سمرة رضی الله عنه په سیستان (نیمروز) کښی د افغانی خراسان په زمکه رومبی جامع مسجد او دینی مدرسه جوړه کړه او دهغه زمانی مشهور دینی عالم او جلیل القدر تابعی حضرت حسن بصری(رح) یی په هغه کښی د امام، خطیب او دسر مدرس په توګه مقرر کړ ترڅو خلګوته د شرعی احکامو دزده کړی لړی پیل کړی تاریخ سیستان ص ۸٤ او تاریخ افغانستان بعد الاسلام‌ص (۱٦ ج-۱، فتوح البلدان دعلامه احمد بن یحیی البلاذری.

حضرت سیدنا عبدالرحمن بن سمرة رضی الله عنه په نیمروز کښی دلږ اوسیدنی څخه وروسته د رخج، رخد (قندهار) او د زابل (قلات) په لور وخوزیده او هلته یی هغه سیمی چی اوسیدونکی یی د اسلام له پاك دین څخه بیرته مرتد شوی وو څه یی په زور ونیول او څه یی په صلح بیرته تابع کړل او ددی علاقو د منظم کولو څخه وروسته یی د غزنی منطقه ونیوله او هلته یی پوځوی فوځی اډه جوړه کړه تر څو د غزنی له لاری کابل فتح کړی.

له دی امله د غزنی نیول د کابل د فتحی لپاره یو زیری وو، هغی خواته د کاپیسا دولت د خپل جنګ او مقابلی لپاره د کابل ښار خوښ کړ، ځکه چی سخت جنګی او استراتیژیکی ځای یی باله او پخپله کابلشاه، د جنګ قومانده په لاس کی اخستیوو دی خوا د اسلامی فوځ سپه سالار حضرت سیدنا عبدالرحمن بن سمرة(رض) ددی جنګ لپاره منظم پلان جوړ کړ او دکابل د جنګ عمومی قوماندان یی حضرت عباد بن الحصین(رض) وټاکه او ورسره ځلور پیاوړی او باتجربه جنګی قوماندانان (عمر بن عبدالله بن معمر التمیمی(رح)، محلب بن ابی صفرة العتکی الانصاری(رض) عبدالله بن خازم السلیمی(رح) او قطری بن الفجاء یی د مرستیالانو په توګه وټاکل او زیات شمیر فوځ چی اکثریی عرب مجاهدین وو ددی لښکر سره دکابل په طرف ولیږل د حضرت عباد بن الحصین(رض)) او دده د څلورو معاونینو د اسلامی فوځ کابل ته د رارسیدو سره یی دکابل ښار د سختی محاصری لاندی ونیو، د افغانی اړخ له خوا د جنګ قوماندان پخپله کابلشاه وو چی اوږده جنګی تجربه هم ورسره وو او د خپلو پیروانو تر منځ دلوړ کچ جنګیالی او شهسوار ګڼل کیده.

کابلشاه د کابل د پاچا هغه لوړ نوم ګڼل کیږی لکه کسری د فارس د پاچا لپاره او قیصر د روم د پاچا لپاره فرعون د مصر د پاچا لپاره او تُبع د یمن د پاچا لپاره د لقب په توګه استعمالیږی.

خدمات دینی واجتماعی علماء در تاریخ معاصر کشور

نخستین جنبش فکری «سراج الاخبار»

قلمه، جوادی

قسمت دوم

در سطور گذشته گفته شد که علماء و مشایخ عظام درهر مقطع از تاریخ کشور آنچه ظروف اجتماعی، زمان و مکان از خدمت دین و وطن ایجاب مینمود بقدر وسع و استعداد دریغ نورزیده اند به قلم و قدم به سرومال به میدان شتافته و رفع مسئولیت کم و بیش نموده اند.

و نیز یاد آور شدیم که سده های ۱۹ و بیست پر آشوب ترین و فاجعه آورترین زمانی برای اسلام و مسلمین پنداشته میشود و جهان در عرصه های سیاست، و پیش رفتهای تخنیکی و علمی به تحولات شگفت و سرسام آوری مواجه شده استعمار و استثمار اروپای دنیا را به خون ریزیهای شدیدی مواجه گردانید و این تحولات فکری، سیاسی و تخنیکی به بیداری و آگاهی ملتها انجامیده آثار و انگیزه های آن محدود به اروپا نماند بلکه برق آسا، همه، جهانرا به خود پیچید که جهان اسلام هم از آن بدور نمانده متأسفانه به کمال فضاحت و رسوائی در گرداب طوفانی آن همه ارزشهای معنوی و سیادتهای تاریخی خود را غرق دیدند. و افغانستان با داشتن موقعیت های مختلف نمیتوانست که از این طوفان همه گیر به امان ماند و متأثر نشود، در حالیکه ملت ما هیچ دم خوش و راحتی را از استبداد حکام زمان خود و جنگهای مستمر شهزاده گان عیاش ندیده بودند و برای همیش بار دفاع از دین و وطن را تنها بدوش میکشیدند و هرگاه متجاوزین اجنبی را دفع و طرد میکردند و امید به نظام عدل الهی میبستند، بار دیگر به حیطه و سلطه، شهزاده گان عیاش و بیدین دیگری خود را مواجه میدیدند، و آنچه از عرق ریزیهای خود بدست میآوردند به عیش و نوش دربار ها میرسید فقر و ناتوانیهای اقتصادی سخت گلوی آنها را می فشرد و آنها را رنج میداد در چنین شرائط واضح است که اوشان به دوام آن وضع قناعت نمیتوانستند و از هر طرفیکه چراغ سبزی را میدیدند به آن دل می بستند و از آن امید ها میکردند که متأسفانه در سایر کشور های اسلامی چه ترکی و چه عربی و ... چنین شد غرض نجات و فرار از استبداد های داخلی ملتهای مجبور و محکوم اما خوش باور و بی خبر به اصطلاح از چکك به زیر ناوه پناهنده شدند خود را از ظلم استبداد داخلی نجات میدادند اما به حلقه های تزویر و تدمیر روشنفکران فروخته شده ملی گرا، کشور های خود گیر آمدند و در این معامله آنچه از دین و معنویت داشتند از دست دادند و دیگر نتوانستند باخته خود را کما فی السابق بدست آرند.

علماء، و مشائیخ کشور ما جریان و اوضاع جهانی آنروز را تحت نظر داشتند و آنچه برجهان اسلامی از بلای جنبه های مادی و ضد دینی تمدن غربی سایه افگنده بود اوشانرا حساس و از پیش کرده پیش بیدار گردانیده بود هر فرد و هر حلقه، از آنها در محیط و ماحول خود بقدر دانش و بینش خویش و به اساس برداشتهای خود ها از تحولات سیاسی و فکری جهانی آن روز در سدد شدند که به عمل و اقدام مقتضی فکری و سیاسی دست زنند برخی از اوشان که در حلقه های اداری و محلی دولتها و حکومتها و مرکز کشور قرار داشتند صواب دیدند که به نبض روز و ایجابات آن دعوت خویش را بشکل منظم تر و اداری تر آن به پیش ببرند تا جواب گوی عصر و زمان گردیده به قناعت شایقین و تشنه گان تحول بشکل عصری آن باشند که آغاز جنبش فکری که در وجود جریده (سراج الاخبار) تبارز نمود و آغازی برای یك تحول متشکل سیاسی گردید از این قماش بود.

و عده، از مشائیخ و علماء بشکل انفرادی و غیر منسجم آن به همان طرز گذاشته به شدت وحدت آن به دعوت خود ادامه داده علیه استبداد داخلی و استعمار خارجی داخل پیکار و جهاد بودند که متأسفانه از هم آهنگی لازم برخوردار نبوده و نتایج دلخواه خود را بدست آورده نمیتوانستند.

در اینجا باز رشته سخن را به عبدالحی(حبیبی) داده تا ببینیم که مرحوم مولوی عبدالرؤف قندهاری مؤسس جنبش فکری (سراج الاخبار) را چگونه به ما معرفی میدارد. (مولوی عبدالرؤف، مؤسس انجمن، از مشاهیر علمای افغانی در اوایل قرن بیستم است که در جنبش فکری عصر دست داشت. وی پسر مولوی عبدالرحیم کاکر قندهاری است که در شوال ۱۲۹۸ق درون بنای خرقه، شریفه، قندهار به دست خود امیر عبدالرحمن خان کشته شد.

تولد مولوی عبدالرؤف در شهر قندهار روز دوشنبه ٥ صفر ۱۲٦۷ق در خاندان علم و فضیلت مولوی حبیب الله معروف به محقق قندهاری است، که از پدرش علوم منقول و معقول را فرا گرفته و مدتی پس از قتل پدرش به دست امیر، از وطن در تبعید به سر برده ولی در حدود ۱۳۰۰ق امیر عبدالرحمن او را واپس به وطن خواست و در کابل به حیث ملای حضور و مدرس مدرسه، شاهی و ممتحن قضات مقرر گشت.

مولوی خاکی در سه زبان عربی، فارسی و پشتو ادیب و نویسنده و شاعر بود. از تألیفات او دو جلد کشکول و خردنامه امیری و سلام نامه، عربی ۱۳۰٦ق و تفسیر آیات العهود به زبان فارسی و رد بر یك حصه، ناسخ التواریخ سپهر مستوفی و ترجمه، المراة الوضیه فی الکرة الارضیه و رساله مصافحه و غیره است و برخی اشعار او به فارسی و عربی نیز دیده شده، برای اینکه مقام فکری مولوی خاکی را در زمان حیاتش بشناسیم و سهم او را در جنبش نخستین اوایل قرن بیستم بدانیم، باید به نوشته های مرحوم محمود طرزی پدر صحافت و مجدد افغانستان که دربارهٔ رحلت وی نوشته، توجه کنیم.

مولوی خاکی قرار نوشته سراج الاخبار یوم جمعه ۱٥ ماه شوال ۱۳۳۳ق از جهان رفت و در مقبره، دامنه خواجه صفای کابل دفن گردید. و محمود طرزی در شماره، ۲ سال ٥ مورخ ۲۰ سنبله ۱۲۹٤ش تحت عنوان «یك خساره، تاسف آور علمی»، مقاله، مفصلی نوشت که تلخیص آن چنین است:

از دیده، زمانه روان است جوی خون
ای دیده، زمانه بگو تا چه دیده ای!

«در این ایام یك سانحه روی داده که از تحریر آن قلم می لرزد، پنجه مسترخی می شود، دل می طپد، حواس پریشان می شود. یعنی زندگی علم و عرفان، حیات ادبیات به یك صدمه جانکاه و یك تزلزل تهلکه همراهی برخورد، یعنی روح عل

ص (٤)

اسلام د ملت پالنی په ځای اسلامی امت جوړوی

مولوی عبدالحکیم «مجاهد»

په تیرو بحثونوکی مو په تفصیل سره د ناسیونالیزم (ملت پالنی) په باب خبری وکړی چی دغه مفکوره کوم عقیدوی بنسټ او اساس نه لری، کومه معنوی او نظریاتی پراخه ایډیالوژی نه لری چی د هغی په اساس د یوه هیواد خلك په فکری لحاظ سره رانږدی، په معنوی لحاظ سره وروڼه او له یوبل سره د مرستی او همکاری په میدان کی لکه دیوه بدن غړی او اعضاو ګرزی.

دناسیونالیزم اساس یواځی څو حسّی او مادی پدیدی لکه: ژبه، رنګ، نژاد، جغرافیایی اشتراك، رسم او رواج، او کلتور تشکیلوی، چی دغه احساسات زیاتره خپله له یوبل سره د جګړو، تعصب او نفرتونو باعث ګرزی او په نتیجه کی انسانی ټولنه په غیر فطری او غیر طبعی وړو وړو ټولنو باندی ویشی او دغه تقسیم او ویش له ملت نه ترقبیلو، ځانګو او وړو وړو پرګنو او ټبرګیو پوری رسیږی او په دی توګه انسانی ټولنه د انانیت او ځانی برتری او ټبرګنی په جاهلی اوروتوکی سوځوی.

خو ددی ټولو برعکس اسلام د ملت پالنی او ناسیونالیزم په ځای د الهی توحید په اساس اسلامی امت یا پراخه بین المللی اسلامی ټولنه جوړوی چی د الهی فرمان په اساس به ټول سره وروڼه وی، لوی خدای(جل جلاله) فرمایی: «بی شکه مؤمنان سره وروڼه دی، نو د خپلو وروڼو تر مینځ ُسوله وکړی» (الحجرات)

په بل ځای کی الله تعالی فرمایلی دی: «بی شکه دغه ستاسی امت، یو امت دی، او زه ستاسی پالونکی یم، نوله ما څخه وویریږی (تقوی وکړی)» (المؤمنون: ٥٢)

اسلام د ژبی، رنګ، نژاد، نسب، وینی او وطن له محدودیتونو څخه آزاد دی، ټول هغه نفرتونه او تعصبونه محکوموی چی د قوم، ژبی، نژاد او رنګ په بنسټونو باندی انسانان یو له بل سره بیلوی او د جګړو په اوروتوکی یی وربڅله کوی، یو قوم دبل قوم تمسخر او استهزاء کوی، یو ملت د بل ملت استثمار او استعمار کوی. اسلام وایی د ملت پالنی ټول یاد شوی عوامل او عناصر د انسانانو تر مینځ د پیژندلو نښی او علامی کیدایشی، خو په یوبل باندی د فضیلت او برتری اسباب نشی کیدلای، د بهتری او برتری اساس یواځی تقوی، خوف من الله او علمی پوهه او بصیرت دی. لوی خدای(جل جلاله) فرمایی: «ای خلکو! بیشکه مونږ تاسی له یوه سړی (آدم) او یوی ښځی(حوا) څخه پیدا کړی یاست او تاسی مو دی دپاره ځانګی او قبیلی ګرځولی یاست چی یوبل سره وپیژنی، بی شکه چی الله(جل جلاله) په وړاندی زیات عزتمن هغه څوك دی چی په تاسی کی د زیاتی تقوی خاوند وی» (الحجرات: ۱۳) او د الله رسول صلی الله علیه وسلم فرمایی: «دعربی په عجمی، دسور په تور، دتور په سور باندی فضیلت او برتری نشته، مګر په تقویٰ سره» «دغه حدیث احمد په مسند کی روایت کړی دی» په یو بل حدیث کی د الله رسول صلی الله علیه وسلم فرمایی: «زه ګواهی ورکوم چی بندګان ټول سره وروڼه دی» (دغه حدیث احمد او ابو داؤد روایت کړی دی) په یوبل حدیث کی د الله رسول صلی الله علیه وسلم د نړی ټول مسلمانان دیوه اسلامی جسد غړی بولی چی د مشکلاتو په وخت کی او د همکاری په میدان کی باید د یوبل په درد باندی وخوږل شی: «ته به ګوری چی مؤمنان یوبل سره په ترحم، محبت او مهربانی کی دیوه بدن په شان دی، کله چی دبدن یو غړی په تکلیف او ربړ کی شی نوټول بدنٌ ورسره په تبه او بیداری کی برابر شریك وی». (دغه حدیث امام بخاری روایت کړی).

له پورتنیو آیتونو او حدیثونو څخه څرګنده شوه چی اسلام د ناسیونالیزم په خلاف د ژبی، رنګ، نژاد او قوم د تنګ چوکاټ په خلاف انسانی ټولنی ته دیووالی او وحدت یو پراخه نظریاتی چوکاټ ورکوی، او د ناسیونالیزم او ملت پالنی دهر ډول نفرتونو او تعصبونو څخه نجات ورکوی، هغه څوك چی دا ډول تعصبونو ته بلنه کوی او په دی لاره کی مبارزه کوی او جنګیږی اسلام هغه محکوموی او دا ډول کسان له اسلامی ټولنی څخه خارج بولی. د الله رسول صلی الله علیه وسلم فرمایی: «څوك چی عصبیت ته دعوت کوی څمونږ څخه نه دی، څوك چی په عصبیت باندی جنګیږی له مونږه څخه نه دی، څوك چی په عصبیت کی مړ شی هغه څمونږ څخه نه دی». (دغه حدیث امام ابو داؤد روایت کړی دی).

قرآن کریم په نظریاتی توګه د حق او باطل په معیار باندی انسانی ټولنه یواځی په دوو ګوندونو یا ټولنو باندی ویشی، یوه هغه ټولنه یا ګوند دی چی دغه بنسټ او بنیاد سیکولریزم وی هغه که ناسیونالیزم وی او یا کمونیزم، غربی دیموکراسی وی او یا شرقی انارشستی وی ددوی په مینځ کی د ګوون ټکی غیر اسلامی او غیر دینی ټولنه جوړول دی.

خلك د الله(ج) له دین څخه غافله کول دی. لوی خدای (جل جلاله) فرمایی: «شیطان په دوی باندی غالب شوی دی، د الله ذکر او یادیی له دوی څخه هیر کړی دی. دوی د شیطان ګوند یا لښکر دی. خبردار! چی د شیطان ګوند یا لښکر همدوی زیانکاران او نامراده دی».
(المجادله: ۱۹)

خو ددی بر عکس د الله د ګوند یا ټولی خلك مسلمانان که څه هم په لسانی، نژادی، د رنګ او وطن په لحاظ سره مختلف وی او حتیٰ که د دوی د پلارونو او نیکونو تر مینځ نژادی یا قبیلوی دښمنی هم تیری شوی وی، خو کله چی دوی د توحید کلمه وایی او اسلام د ځان د پاره د ژوندانه لاره ټاکی، په ټولنه کی د دوستی او دښمنی معیار اسلام بولی، نور د الله دګوند او اسلامی ټولنی اتباع او اعضا او په خپلو منځونوکی سره وروڼه کیږی. له سیکولر غیر اسلامی او اسلام دښمنه ډلو او اشخاصو سره مینه او محبت نه کوی، له هغو سره خپلی اړیکی پریکوی که څه هم هغوی دده له قوم، ژبی، رنګ یا نژاد څخه وی. خدای(جل جلاله) فرمایی: «ته به داسی یو قوم پیدا نکړی او یا څونه بنایی چی پیدایی کړی، چی په الله(ج) او د آخرت په ورځ ایمان ولری، بیادی د الله او د هغه د رسول(ص) له مخالفینو سره دوستی وکړی، که څه هم (دغه مخالفین) د دوی پلارونه، د دوی زامن، د دوی وروڼه او د دوی له قبیلی څخه وی... دغه خلك د الله حزب (ګوند)

(۳مخ)

یا الله! حج یې مقبول کړې!

حج د اسلام په پنځو ارکانو کې یو رکن دی، اجتماعي حیثیت او د اسلامي وحدت ننبه یې له نورو ارکانونه لوړه ده، که څه هم په پنځه وخته لمانځه کې د جماعت له امله اجتماعي حیثیت او د اسلامي وحدت ننبه شته او د جمعې په لمانځه کې زیاته ده، د اخترونو په لمانځه کې له هغه نه هم ډېره روښانه ده. په زکات کې د خوارانو او بېوزلو کومک او لاس نیوی دی، مګر په حج کې اجتماعي حیثیت او د موحدت مظهر له ټولونه اوچت دی، هغه له دې امله چې د نړۍ له هرګوټ نه مسلمانان راځي او دلته ټول ځانونه د احرام په یو ډول جامو پټوي، ټول د تلبیې او توحید کلمې یو رنګه الفاظ تکراروي، په یوه دښته کې تاسته ولاړ، عبادت او لمونځونه کوي، دغه د اسلامي موحدت ننبه او مظهر دنړۍ په هیڅ دین کې نشته دی؛

هغه مسلمانان ډېر بختور دي چې الله تعالی یې دغه دخیر تصیب کړی وي، یو خو به الله تعالی ته په هغو بختورو ځایونو او بختورو شپو ورځوکې له خپلو ګناهونونه توبه وکړي، پښیمانیت به ښکاره کړي، عذر او زاري به وکړي او بل به د نړۍ له نورو مسلمانانو سره لیدل کتل وکړي، یو وخت به د اسلام سترو علماوو د علم، فتوا او روایت په هکله هم یو له بل نه ګټه اخستله د اسلامي نړۍ په اجتماعي او سیاسي حالاتو به یې هم غور او څېړنه کوله، په اوسنی وخت کې که څه هم په هغه اندازه علمي او سیاسي تبادل الفکار نشته دی مګر بیاهم هغه مسلمانان چې ګېرك دي او هر څه ته پام کوي ډېر څه لیدلی، اوریدلی، پند او عبرت ورنه اخستلی شي.

هغه وخت چې دسفر د وسائلو کمی ؤ، لاري په امن نه وي، د هر ځای مسلمانانوته به دتللو اجازه نه پیدا کیده ډېر مسلمانان وروڼه او خوېندې دحج په ګډ او تنده کې له دنیا نه ولاړل او دحج کولو ارمانونه یې ګورته ورسره یوړل، مګر نن سبا د الله تعالی په لوی فضل سره د سفر دومره وسائل، اسانتیاوې او د لارې امن برابر شوي دي چې په ملیونونو بختور مسلمانان ددغې نیك بختۍ خاوندان کیدای شي.

مګر په یوه خبره باندې پوره غور کول په کار دي چې دغه نیك بختي یوازې هله په لاس راتلای شي چې دغه سفر په الهي نیت سره او یوازې د الله تعالی د رضا لپاره وي د محض سوداګرۍ، ریا او تش نوم لپاره نه وي او بل داچې دغه ستر اسلامي رکن په شرعي احکامو پوره ځان خبر کړي تلبیه او نور اذکار سم صحیح، زده کړي، حسې نه چې یو څوك د سفر ستړتیا او دپیسو لګښت په ځان ومني، ځان ستړی کړي، پیسې ولګوي خوبایې نیت سم نه وي او یایې د حج په ضروري احکامو ځان نه وي پوهولی، دغسې تګ راتګ بیا یوښه سیاحت شمیرل کیدای شي خو د ثواب په لحاظ اعتبار نه لري.

په دغو تیرو شپو ورځوکې چې دالله تعالی په فضل سره په ملیونونو مسلمانان ددغه بختور اسلامي ستر رکن په ادا کولو او د اسلامي مقدسو مقاماتوپه زیارت مشرف او دالله تعالي میلمانه وو د خپلې توبې، انابت او په ګناهونو پښیمانتیا برسیره به یې په نړۍ کې هغه مسلمانان هم ورپه یاد شوي وي چې دلوږي، نیستي، مرضونو طبعي آفاتو په ستونځو اخته دي په تیره بیا هغه مسلمانان چې د ظالم او وینه زبېښونکي دشمن د اوښکو او اور تر باران لاندې پراته د وینو ویالې یې بهیږي او غوښې یې ټولو لوړو ژووکې خورې ورې پرتې دي؛ کېدای شي چې په هغوی یې زړه سوځیدلی وي او دزړه له کومې دعاګانې یې ورته کړي وي.

له ټولونه زیاتي ستونځې او کړاوونه د افغانستان مسلمانانو د جهاد په دوران کې اوله هغه نه راوروسته وګاللې او ګالي یې، زموږ هیله ده چې ټولو حجاجو کرامو په تیره بیا افغاني مبارکو حاجیانو به د خپل کور(افغانستان) د کشالې دحل، د ربانی دراپرزولو او په دا نیم پاتې وطن کې هم د شرعي احکامو د نفاذ او اسلامي نظم او نسق قائمولو لپاره په ژړا، ژړا له الله تعالی نه خواست (غوښتنه) کړي وي.

یاالله! ته یې حج او د خیر دعاګانې قبولې کړې. اللهم: حجاً مبرورا و ذنباً مغفورا و عملا متقبلا.

شریعت یا دبشر سعادت

قاضي صديق الله (صادق)

څه ښکلې تازه تر دي دا بوستان د شریعت
بلبل دی هم بورا دی ثنا خوان د شریعت
په خپل نفس حاکم شه که مطلب دې کامیابي دی
واصل به شې مرام ته په عرفان د شریعت
سحر د ژوندانه کښې د تقوی لباس په ځان کړه
قُم قُم واوره قمرینه یا اذان د شریعت
که غواړې سعادت د ژوندانه ټولو اړخو کښې
صمیم شه دیانت کښې په ایمان د شریعت
صحنې د زندګۍ کښې لکه وریځ د پسرلي شه
زرغونه دانړۍ کړه په باران د شریعت
قانون د شریعت متکفل د سعادت دی
عمل وکړه زړګیه په جهان د شریعت
د حق او حقیقت جهان ودان په شریعت دی
محکم او مستقیم شه په میزان د شریعت
انسان چه له دُنیانه تر لاهوته پورې رسې
ممکن دی داسې کیږي په فیضان د شریعت
دنیا کښې چه د عدل نظم او نسق قائیم شوی
داواړه راپیداشو په فرمان د شریعت
حقوق دانسانانوتې دُنیا کښې ثابت کړي
راوپښه دا نړۍ شوه په اعلان د شریعت
دنیا د زور و ظلم استبدادنې ورانه کړي
هم امن هم ایمان دی جاویدان د شریعت
«صادقه» لړ په خپله شریعت باندې محکم شه
واصل به شې مقصدته په لوی شان د شریعت

د ادب ملغلري

مناجات

ملااسدالله حنیفی

لویه خدایه د زړه صبر اطمنان ر
خوی خصلت دښه سپیڅلي مسلـ ـن را
د شیطان له دسیسونه مامون نه یم
الهی له لغزیدلونه امان را
زه عاجز یم دازمیښت وسه مې نشته
نه توفیق د ابتلا او امتحان را
ته رحمن یې ته رحیم یې ته کریم یې
ته په خپل رحم د نیکو وس او توان را
چې قدم قدم مې تله په تیغه لاروی
ته عمل په سپینه لاره د قرآن را
چې همیش مې ژبه شوری ستاپه یاد کښې
داسې زړه داسې حلقوم داسې لسان را
چې له لاسه مې مؤمن په ازار نشو
داسې کړه داسې عمل په دې جهان را
چې ټولي د صالحانو کښې حساب شم
داسې عمر داسې ژوند داسې ایمان را
چې کاته مې د حرامو په لورنه وي
الهی داسې نظر داسې چشمان را
د ګناه په رنځ بیمار یم لویه خدایه
له دې رنځه د سالم صحت درمان را
پاکه ربه ستا دفضل امیدوار یم
د خپل رحم په درشل کښې خپل احسان را
رحم فضل په ما خوار (حنیفی) وکه
شفاعت د داواړو کونو د جانان را

(پیسور)

فریاد شبیر

گریجای اشك ریزم از چشم خون جگر
کم بود در سوگ آن احمد نبی خیر البشر
کم بود گر دامنم از خون دل رنگین شود
زانکه چوب خشك شد اند فراقش ناله گر
رحمة للعلمینی ای حبیب کبریا
هم شفیع المذنبیی هادی جن و بشر
الصلوة و السلام از مابروح پاك تو
تاقیامت دمبدم ای مظهر شق قمر
هم باروا‌ح عشاق جان فدایانت سلام
باکفار اندر ستیزو راحمین باهمدیگر
ای خدایا عمر خود را صرف کردم در گناه
از طفیل احمد و عشاق او از من گذر
ای خدای ذوالجلال این بنده، ناچیز را
وا رها کن از عذاب آخرت و زجمله شر
ای (شبیر) بینوا دائم نمی نالی چر
گشته، مهجور چون از روضه آن معتبر

حلوریزه

ځی دیووالی لاره ونیسو علم واخلو
وعتصموا فرمان له ځان سره محکم واخلو
کلی په کلی کور په کور دغه آواز خپور کړو
دسوکالي او ورور ولي په لور قدم واخلو

حنیفی

غزل

(یونس)

که ته تیرشې په حرص تر سمرقند
چې به راوړم په منګولو سمرقند
که طالع دې سرنګونه وي رازده کړه
ستا په بخت به شي ورمه د کیني بند
د حریص په نا امیدي باندې حدیث دی
صابرانو په مقصود وکرانتد
د ققنس بچي هم شغل د خپل پلار کا
دپدر کسب میراث دی د فرزند
دهر څیز تخم چې وکرې په ځمکه
په خپل اصل پسې ځي پست و بلند
چې دجنګ په ورځ دي فتح وي له خدایه
هغه ورځ به رستم راولي په بند
په نصیب چې دي کمي وي په تقدیر کښي
ادتینه دي ګردن بند که په کمند
بې جفه چې مې سرایسي په ګردن دي
دیونس په بل رواندي سوګند

حمزه بابا

اوس زما هغه مقام دی نه خوشحال یم نه خپه یم
نه دځان سره ملګرې نه شامل له تاسره یم
چې اسباب یې متحد شي خوا مخوا هغه کار اوشي
نه مجبوره په راتربې زه مجبوره په شکریه یم
چې ساحل مې په نظر شي وایم لرې سمندر دی
حو چې سرشم هسکوی یې زه پوهیږم چې خپه یم
زه د ستاله لاسه جوړیم دستا صنع را کښې پاتې
عاقبت په ښکار زماشي ښکاري نه زه یې څزه یم
تاو دعشق به مې پناکا دهستي خاشاك مې ډېر کړه
چې مې سوز په کمون نه شي څو چې پایه لیه یم
ډېرحرص مې چې دښکار وو ورك مې غار دقناعت کړ
د هستي اورد ځنګل دي په داځه که زه حمزه یم

دشرعی اعلامیی متن

هغه وخت چې د ۱۳۷۵ لمریز هجري کال دوري په څوارلسمه نیټه د افغانستان د جیدو عالمانو او قومي مشرانوپه لویه او تاریخي غونډه کې د طالبانو د اسلامي تحریك له مشر سره د افغانستان د امیرالمؤمنین په توګه شرعي عام بیعت کیده له هغه سره جوخت علماوو کرامویه دغه هکله شرعي دلایل راغونډه کړې وو او دفتوا غوښتنې (استفتاء) په بڼه کې یې د شرعي اعلامیې په نوم هلته خپاره کړل؛

دغې تاریخي فیصلې په موکه داسې پیش بیني کیدله چې د رباني، دده دانداپوالانو او نورو د منفي ذهنیت خاوندانو دریز او دعمل غبرګون به د علماوو کرامو ددغې شرعي، تاریخي او ملي فیصلې په وړاندې منفي وي او په شل رنګه حیلو او بهانو به زیار باسي چې ځان ورڅخه تیر کړي، هغسې بیاوشول چې د هغو ډلو له خوانه په اخبارونوکې د داسې امر معروف یا ستري محکمې په نوم چې هیڅ نشه او اثر یې چانه دي لیدلي او کله په نورو نوموتو بیانو نه خپاره شول چې غوښتل یې د علماوو کرامو له دغې فیصلې سره ځانونه تکر کړي او موږ ویلي ؤ چې د علماوو کرامو فیصله یوه شرعي فیصله ده، دوی شرعاً د ټول افغانستان نماینده ګان دي او له شرعي فیصلې نه د تیښتې جرأت یوازې هغه څوك کولی شي چې له اسلام نه د وتلو جرأت هم ولري؛

اوس عامو خلکوته د حقیقت د ښکاره کولو لپاره غواړو چې هغه شرعي اعلامیه دلته خپره کړو تر څو مسلمانان د خپل ایمان، ژوند او اخرت په هکله د مستندو شرعي دلایلو په رڼا کې خپل پریکنده او نهایي تصمیم ونیسي او د طالبانو د اسلامي تحریك ترڅنګ لاپسې مضبوط ودریږي؛

استفتاء

څه وائي د پاك دین علماء او د سپیڅلي شریعت مفتیان په لاندې مسائلو کښې؟

الف: ایا برهان الدین رباني ته دا حق شته چې هغه روسان چې په افغانستان کښې د څوارلسو کالو د ټولو جنایتونو مسئولیت په غاړه لري ویخښي؟! او د هغو یو لك کسیز سره فوځ قطعات چې افغانستان ته د هوایي او ځمکني قوت سره ورننوتل د مداخلې مسئول ونه ګڼي، بلکې د نړۍ دیو مصلح قوت په توګه یې اعلان کړي؟ لکه چې د ۱۹۹۶ میلادي کال د مارچ په ۲۸/۲۷ شپه دده مرکه د بي بي سي راډیو له څپو څخه خپره شوه.

ب: آیا دې د افغانستان د واکمن په توګه کولی شي چې دروس، چین، ایران، هندوستان او فرانسې سره تړونونه او قراردادونه ترسره کړي؟ تر څو چې افغانستان نورهم ددې پر ځای چې ودان کړي تباه او برباد کړي.

ج: آیا هغه اداره چې څلورکاله د اسلام پر نوم چلیدلې ده او تر اوسه یې کښې هیڅ شرعي نظام عملي لاڅه چې د کاغذ پر مخ هم ندې تصویب شوی او هیڅ وجود نلري. شرعاً اسلامي حکومت ګڼل کیدای شي؟ بلکې د په خوانې کمونیستي اداري لوائح او مقررات پکښې عملي بڼه لري مخلوط پرسونل پر کار بوخت دې فحشاء او منکر په لوړه سطحه روان دي.

بینوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب

الف: دلومړي فقرې توضیح دادي چې: ټولو نړیوالوته ثرګنده ده چې د ۱۳۷۵ هـ ش کال د ثور د اومې نیټې څخه را پدې خوا چې د کمونیزم خونړي کودتا تر سره شوه د روسانو لاس پوڅو نوکرانو د الحادي قوانینو په عملي کولو پیل وکړ د هغو په مقابل کښې د افغانستان حق پرستو دیني عالمانو د مسلح جهاد شرعي فتوای صادره کړه او د افغانستان قهرمان ملت ډیرپه چټکتیا دنورستان له غرونو او د پکتیا له سردرو او د پامیر له لوړو څوکو د نیمروز تر ریګستانونو پورې په مسلح جهاد پیل وکړ. په نتیجه کښې روسانو د خپلو نوکرانو د ساتلو په غرض د افغانستان لویشت لویشت ځمکه بیاره کړه او د باروتو په لوګو کښې یې وسوزوله په نتیجه کښې یې نږدې اتلس لکه مسلمانان شهیدان کړل، د مسلمانانو نوکونه او سترګې یې ووېستلې او په لکونو مسلمانان یې ژوندي ترخاورو لاندې کړل. نږدې لس لکه مسلمانان یې معلول او ټول افغانستان یې په کنډوالو بدل کړ. څه د پاسه پنځه میلیونه مسلمانان یې هجرت ته مجبور کړل چې تر اوسه پورې د نړۍ په ګوټ ګوټ کښې خواره واره پراته دي او لا تر اوسه پورې نږدې شپیته زره تومیالي مشائخ، علماء، مسلمانان مجاهدین او قهرمان مبارزین د روسانو په زندانونو کښې لاس تړلي پراته دي، رباني لدې امله چې د افغانستان د ملت نماینده نه دی او هیڅ شرعي او قانوني حیثیت هم نه لري، دی د جنایتکار روسانو د معاف کولو هیڅ حق نه لري بلکې د افغانستان مسلمان او قهرمان ملت په ددې شهیدانو د قصاص اخستلو سره دجنګ ټول تاوان هم اخلي انشاء الله تعالی د افغانستان ټول علماء، د افغانستان مؤمن او قهرمان ملت څخه په ټینګه غوښتنه کوي چې د رباني د دې جنایت په وړاندې چپ پاتې نشي بلکې دده په نسکورولو کښې د طالبانو د اسلامي تحریك سره هر ډول مرسته وکړي ځکه چې دی د هغو روسانو ګوواګي دي چې زموږ ګران هیواد افغانستان یې نه یوازې دا چې څوارلس کاله تباه کړی دی بلکې اوس هم د افغانستان دملك او ملت دتباه کولو لپاره نظامي او اقتصادي مرستې د رباني د غیر قانوني اداري سره دوام لري چې د طالبانو د اسلامي تحریك د هوایي ځواك له خوا د روسانو د وسلې او مهماتو ډکې طیاري نیکته کول یې یوه لویه بېلګه ده.

ب: له دې امله چې رباني د افغانستان شرعي او قانوني واکمن نه دی د هیڅ دولت سره د هیڅ قسمه تړون او قراداد حق نه لري ځکه چې د اسلامي امت فقهاء، کرام په خاص ډول احناف فقهاء لیکي:

قال علمائنا رحمهم الله: السلطان یصیر سلطاناً بامرین بالمبایعة معهم و یعتبر فی المبایعة مبایعة اشرافهم (څلورم مخ)

(څلورم مخ)

څه ډول سوله؟

شاجهان سرداری

دیر ناروغ د ټبي او مؤثري تداوي لپاره د ناروغي تشخیص او پېژندل لومړنی شرط دی. هر هغه ډاکټر بریالی او پوه ګڼل کیږي چه د ناروغ د رنځ سابقه ښه مطالعه کړي او د ناروغي ټول مشخصات او علائم درك کړي. ډاکټر ته داهم ښایي چه د ناروغ د پخوانیو ور څورو شوو درملو ښکیلې هم تر خپل نظر تیري کړي تر څو پخواني تجربه شوي غیر مؤثري او غیر مفیدي دواګاني او خواره بیا ناروغ ته ورنکړي.

افغانستان سولې ته اړ دی، افغان ولس د هر څه په پرتله د سولې ډېر حاجتمن دی، افغانان د خورو او خسو څخه هم سولې ته زیات ارمن دي، لوی خدای دې هغو ټولوته اجر ورکړي چه زموږ د ولس ددې اړتیا د پوره کولو لپاره منهي را منهي وهي.

مګر هغه څه چه موږ ئې غواړو د مشورو په توګه ئې قدرمنو مصلحینو ته ووایو هغه دادي چه هغوی باید زموږ د هیواد د رنځ حقیقت درك کړي، هغوی باید زموږ د ناروغ وطن د ناجوړتیا اصلي عوامل مطالعه کړي، هغوی باید زموږ د جنګ ځپلي ملك د مرض سابقه ولټوي، هغوی باید ددې رنځ ځپلي ملك د درملو پخواني ټکیځي پوځل له نظره تیري کړي. ترڅو هغوی پدې وتوانیږي چه ددې ناروغ وطن لپاره مؤثر، اغیزمن او مناسب درمل ومومي.

حقیقت د مسئلې دادي چه په افغانستان کې د سولې کوښښونه کوم نوی ابتکار ندی، او نه داالزموږ واردي چه دلته د سولې او جوړې جاړې لپاره هلې ځلې کیږي، په افغانستان کې د سولې پروسه له هغه وخته پیل شوی د کله نه چه دلته د جګړو اورلګیدلی دی. افغانستان ته دروغجن جوړې لپاره ډېر هیئتونه تللي راغلي دي، ډېرو خلکو پدې هکله ستړیاوې ګاللې، زحمتونه ئې تیر کړي، ډول ډول ستونزې او کړاونه ئې زغملي، خو دټولو کړاونو او مشکلاتو د تیرولو نتیجه ئې منفي وتلې او زموږ د هیواد د ستونزو په کمښت ئې هیڅ اغیزه نده کړي، او د هغوی د ناکامۍ اصلي علت هم داوه چه هغوی د ستونزې دقیق تشخیص نوه کړی بناء درمل ئې هم نا مطلوب وه او دا څو طبیعي ده، چه د نامطلوبو درملو نتائیج منفي دي.

په افغانستان کې د سولې د هلو ځلو هیڅ نور تاریخ لري او ډېر کله د داسې ناروغو او غرضي سولوپه نتیجه کې دراننه جګړنه رامنځته شوي دي.

کله کله داسې هم شوي چه د جوړ جاړي په نامه د جګړو د نور تیاریو لپاره هم کار شوی او د جګړې دواړو خواوته دا فرصت ورکړل شوی چه ځانونه نورو جګړو ته سمبال کړي، یعنې د جنګ لپاره سوله شوي ده، او بیا د جنګ جګړو اوربل شوي دي.

دا ټول یو حقیقت دی او سترګې پټول ترې پکار ندي.

نن ورځ چه هر څا ددې اراده کړي وي چه په افغانستان کې د سولې لپاره کار وکړي هغوی ته ښائي چه د پخوانیو روغو جوړو د ناکامي عوامل وڅیړي او دعملي سولې لارې چاري ولټوي، موږ خو پدې عقیده یو چه د ډلګیو تر منځ د قدرت ویش هرګز هم سوله نشي تأمینولای.

موږ پدې یقین لرو چه د هیواد د نظامي ځواك تجزیه او د فوځي قطعاتو سیاسي تعدد دسولې د مخنیوي اصلي عوامل دي.

موږ پدې باور لرو چه د غیر مسئولو او بې احساسه افرادو په لاس کې د سپکو او درندو وسلو شته والی دسولې عملیه تهدیدوي.

موږ وایو د ګوندونو تر منځ د هیواد د سیاسي او اداري ارګانونو ویشل دلا نورو ستونزو د زیږیدنې سبب ګرځي ځکه د مرکزي دولت د پیروي او اطاعت په پرتله د تنظیمونو افراد ځانونه خپلو ګوندي مشرانو ته ډېر وفادار ګڼي او د دولتي اوامرو پر ځای په ګوندي اوامرو عمل کوي.

موږ پوهیږو چه د ډلو تر منځ د عسکري قوت ویش هغوی ته دا صلاحیت او استعداد ورپه برخه کوي چه هغوی ځانګړي حکومتونه وچلوي او هر څوك د خپلې غوښتنې سره سم هر وخت چه زړه ئې وغواړي بیا جګړې پیل کړي، خصوصاً ځینو څو د پینځه ویست کلونو لپاره د جنګ استعداد شودلی او سرګنتني یاد کړي چه دامورده په خامخا د خپل خصم سره وسله واله مقابله کړي، او هغوی لاتراوسه د خپل سوګند قدیه هم نده ورکړي چه ګوندي موږ ووایو چه هغوی دي د جنګ فکر هیر کړي وي. او نه هم تر اوسه پنځه ویشت کلونه پوره شوي چه هغوی دي له جنګه منصرف شوي وي. په همدې توګه ځینو نورو بیا وعده کړي چه ترمرګه به د خپل خصم سره جنګیږي، نوڅه فکر کیږي چه که چیري داسې افراد د جنګ امکانات، وسائل او تجهیزات په اختیار کې ولري آیا هغوی به بیا د خپلو وعدو او ژمنو دپوره کولو لپاره اقدام ونکړي؟ او که چیري د خپل رقیب په ټکولو بریالي نشي او یا دهغه په نابودولو کې ناکام هم راځي مګر د ولس په وژلو کې خو ناکام نه راځي، د ښارونو په ویجاړولو کې خو پاتې نه راځي، هغوی به خامخا او ضروري خپل ارمان ترسره کړي.

زموږ په نزد دستونزې حقیقي او ریښتوني حل داوي چې وسلې او دولتي وسایل د ملت حقیقي نماینده ګانو ته وسپارل شي. او ټولې پلی دیوه واقعي اسلامي حکومت د جوړیدو تعهد وکړي او یوه واحد مرکزي حکومت ته د اسلامي شریعت سره سم غاړه کیږدي، ځانګړې سیاسي ډلې چې په نظامي قوت باندې ولاړې دي او د خپلو ذات البینې جګړو له کبله یې هیواد تباه کړی خپل فوځي وسایل د اسلامي اردو په اختیار کې ورکړي. داکار د طالبانو اسلامي تحریك په له نیمایي نه زیات افغانستان کې تجربه کړی، او په نور افغانستان کې هم باید د دوی ترقیادت لاندې ترسره شي، ځکه دوی د هیواد واحد بې طرفه ځواك دی چې اسلامي شریعت یې تطبیق کړی په خپلو سیمو کې یې سوله او امنیت تأمین کړی او دهر ډول بهرني فشار او مداخلت په خلاف یې مقاومت کړی دی.

اسلام دملت پالنې په ځای ...

دی. خبردارا چې یې شکه د الله ګوند مراد ته رسیدونکی او بریالی دی». (المجادله: ۲۲).

په بل ځای کې لوی خدا(جل جلاله) مسلمانانوته امر کوي چې د خپلو اړیکو معیار براځي ایمان او اسلام وګرزوي نه قوم، قبیله وطن او حتی ورورولي او پلرولي هم باید پریښودله شي. الله تعالی فرمایي: «ای هغو کسانو چې ایمان یې راوړی دی (ای مؤمنانو!) تاسې خپل پلرونه او خپل وروڼه دوستان مه نیسئ، که یې کفر په ایمان باندې خوښ کړی وي، او که په تاسې کې چاله دغو (کفارو) سره دوستي وکړه، نو دغه کسان ظالمان دي». (التوبه: ۲۳).

په اسلام کې د دوستي او دښمنۍ معیار اسلام دی، څوك چې مسلمانان دي هغه سره دوستان او وروڼه دي، څوك چې کافران دي او د اسلام مخالف وي هغه د مسلمانانو دښمنان دي که څه هم هغه دده دکورنۍ څخه وي پلاریې دی، زوی یې وي، او یا خو ورور او حتی په مایښه او میړه کې که یو تن اسلام پریږدي او کفر غوره کړي ددوی ازدواجي اړیکې او رشته پایته رسیږي نور میړه او میرمن نه شي کیدلای.

عملي مثالونه؛

اسلامي ټولنه یا اسلامي امت له هر ډول تر پیر او تبعیض څخه پاکه ده، هلته د انسانانو معیار ایمان، تقوی، نیك عمل، اهلیت او دیانت دی. حضرت سلمان رضی الله عنه په ژبه فارسي زبان او د وطن په لحاظ ایراني وو، خو کله چې به له ده مبارك څخه چا د نسب پوښتنه وکړه، نو ده به ورته ویل «سلمان ابن اسلام» حضرت علي کرم الله و جهه به ویل «سلمان من اهل البیت» (سلمان له اهل بیت څخه دی) د توریوستي بلال حبشي رضی الله عنه په باب حضرت عمر رضی الله عنه وایي: «بلال سیدنا» (بلال زموږ سردار دی).

حضرت صهیب رومي رضی الله عنه به یې په خپل ځای د لمانځه د امامت د پاره مخکې کاوۀ چې دغه یو ستر امتیاز وۀ.

حضرت عمر رضی الله تعالی عنه کله چې زخمي شو او د خلیفه ټاکلو په فکر کې شو نو د حضرت حذیفه رضی الله عنه غلام حضرت سالم رضی الله عنه یې یاد کړ. ګو ویې ویل که نن حضرت سالم رضی الله عنه ژوندی وای ما به هغه د اسلامي خلافت د پاره ټاکلی وای، له دې نه څرګندیږي چې په اسلام کې د اهلیت او کفایت معیار نه څومره ترجیح ورکوله کیږي.

همدا راز د الله رسول صلی الله علیه وسلم خپل غلام حضرت زید بن حارثه رضی الله عنه د ځان د زوی په توګه (متبنی) وټاکل، او د هغه زوی حضرت اسامه رضی الله عنه یې د کشر توب په وخت کې نظامي قوماندان وټاکل چې د حضرت ابوبکر، حضرت عمرفاروق ابوعبیده ابن الجراح رضوان الله علیهم په شانې عظیم اصحابان دده ترقوماندې لاندې وۀ. یو ځلی حضرت عمر رضی الله عنه دده په هکله خپل زوی عبدالله(رض) ته وایي: «د اسامه(رض) پلار ستا د پلار څخه ښه دۀ، او اسامه(رض) خپله له تا څخه ښه دی».

په هر حال اسلامي تاریخ ددې په شانې نورو په سلګونو او زر ګونو داسې مثالونه لري، چې په انساني ټولنه کې یې هر ډول مادي، هر ډول نسلي، لوني، لساني، نژادي او نور داسې امتیازات او توپیرونه له منځه وړي او د اسلامي ټولنې بنیاد یې په خالص توحید، تقوی، امانت، دیانت او اهلیت باندې ایښی دی، او انساني ټولنه یې د عدالت، محبت او اخوت د نعمتونو سره غاړه په غاړه کړې ده، چې په آینده کې هم دغه استعداد په ځان کې لري.

دشـــرعـــی اعـــلامـــی ...

و اعیانهم و الثانی: ان ینفذ حکمه فی رعیته خوفاً من قهره و غلبته فان بایعه الناس و لن ینفذ حکمه لعجزه عن قهرهم لا یصیرسلطاناً و اذا صار سلطاناً بالمبایعة فجاز ان کان له قهر و غلبة لاینعزل لانه لو انعزل یصیر سلطاناً بالقهر والغلبة فلایفید و ان لم یکن له قهر و غلبة ینعزل الخ فتاوی قاضیخان ص ٤٧٤ ج-٤، مجمع الانهر ص ٦٩٩ ج-١، بحرالرائق ص ١٤٠ ج-٥، رد المحتار ص٣٩٩ ج-٤، درالمختار ص ٣٩٩-٣٤٠ ج-٣

و قال صاحب درالمختار: و الامام یصیر اماماً بامرین بالمبایعة من الاشراف و الاعیان و بان ینفذ حکمه فی رعیته خوفاً من قهره، و حرویه الخ ص ١٢٦ و قال صاحب المواقف و شارحه: للامة خلع الامام و عزله بسبب یوجبه مثل ان یوجد منه مایوجب اختلال احوال المسلمین و انتکاس امور الدین کما کان لهم نصبه الخ ص ٦٠٧ و قال صاحب اعلاء السنن: فلوبایع العلماء و جماعة المسلمین رجلاً لایقدر علی سدالثغور و حمایت البیضة و جرالعساکر و تنفیذ الاحکام بشوکته و بأسه و لا علی انصاف المظلوم من الظالم بقدرته و سطوته لایکون ذلك امیراً و لا اماماً و الماهو بمنزلة الحکم و مبایعة الناس له بمنزلة التحکیم و لا یجدی تسمیته و الشهرة فقط فلایجب علی عامة المسلمین مبایعتهم و اطاعة احکامه و الجهادبمعیته و لا یسقط بمبایعته واجب نصب الامام عن ذمة المسلمین بل علیهم ان یلتمسوالهم و الیاً قادراً بالقدرة اللتی قد ذکرنا ها الخ اعلاالسنن ص ٤-٥ ج-١٢ و اخرج ابویعلی الموصلی فی سنده: الامام الضعیف عن الحق ملعون الخ منهاج الصالحین ص٤٦٣.

له پورتنیو احکامو څخه معلومه شوه چی هغه واکمن چی په خپل ملك کښی تسلط نه لری او قدرت یی دشرعی احکامو او د حدودو په جاری کولو نه وی هغه سری پخپله معزول دی او د اهل الحل والعقد په بیعت یوازی د حکم حیثیت لری او حکم بیایه لاندی ذکرشوو شیانو معزولیری حافظ زیلعی لیکی: الحکم انما یخرج عن حکمیت باحد اسباب الثلاثة: اما بالعزل او بانتهاء الحکومة و نهایتها بان کان موقتاً فمضی الوقت او بخروجه من ان یکون اهلاً للشهادة بان عمی اوارتد و العیاذ بالله الخ تبیین الحقائق ص١٩٤ ج-٤، و الفقه الاسلامی وادلته ص٧٠٣ ج-٦، برهان الدین ربانی که د حکم په توګه واتی هم د دوکالو په تیریدو دده حکمیت پائی ته رسیدلی دی دی تش په حکومت غاصب دی.

ج : لدی امله چی ربانی پخواهم شرعی او قانونی امیر او سلطان نه وو بلکی د حکم په توګه دیو شرعی امام د راوستلو لپاره تعین شوی وو نو هغه دوه کاله هم پوره شویدی کوم شرعی قانونی او عملی نظام یی هم نه درلود په یوه لویست زمکه یی هم امنیت ندی راوستلی او فحشاء او منکر پکښی اخری درجی ته رسیدلی وو او اوس هم وجود لری نو ددی لپاره چی دغه منکرات ختم او اسلامی سپیڅلی شریعت حاکم شی د طالبانو اسلامی تحریك دعلماوو په فتوا را پورته شو او په نیم افغانستان یی تسلط حاصل کړی پوره امنیت یی راوستلی دی، او اسلامی حدود یی نافذ کړی دی علماوو کرامو داسی فتوا ورکړی وه چی امام ابوبکر الجصاص(رح) د سوره آل عمران: آیت ١١٠ په تفسیر کښی چی فرمایی: و لتکن منکم امة یدعون إلی الخیر... نبی کریم صلی الله علیه وسلم فرمایی: من راء منکم منکراً فلیغیره بیده فان لم سیتطع فبلسانه و ان لم سیتطع فبقلبه الخ قال الجصاص: لایجوز استعمال اللسان حیث یمکن التغییر بالسنان و لم یدفع احد من علماء الامة وفقهائها سلفهم و خلفهم وجوب ذلك ای وجوب الامر بالمعروف و النهی عن المنکر الا قوم من الحشویة و جهال اصحاب الحدیث فانهم انکروا قتال الفئة الباغیة و الامر بالمعروف و النهی عن المنکر بالسلاح حتی ذهبت الثغور و شاع الظلم و خربت البلاد و ذهب الدین و الدنیا و ظهرت الزندقة و الغلو و مذهب الثنویة و الخرمیة و المزدکیة و الذی جلب ذلك کله علیهم، ترك الامر بالمعروف و النهی عن المنکر و الانکار علی السلطان الجائر الخ احکام القرآن للجصاص(رح) ص ٣٢-٣٤ ج-٢.

وقال فی احکام القرآن للعثمانی: یشترط للامر بالمعروف و النهی عن المنکر بالسلاح ان یجدعلیه اعواناً صالحین ورجلاً یرأس علیهم مامون علی دین الله الخ. احکام القرآن للعثمانی(رح) ص٥٣ ج-٢.

وقدرو عدد الاعوان باثنی عشرالفاً کمافی الدر المنتقی: لوخرجوا علیه (ای علی من یسمی نفسه اماما) لظلم ظلمهم جاز و لیسو ابغاة لکن إن کانوا اثنی عشرالفاً کلمتهم واحدة لتیقن غلبتهم بوعد الصادق صلی الله علیه وسلم فلوکانوا قل من ذلك لم یسعهم الخروج لعدم تیقن الغلبة کمافی القهستانی عن المضمرات الخ، الدرالمنتقی ص ٦٩٩ ج-١. و حکی عن انس بن مالك(رض) انه سئل عن قوم ارادوان یخرجوا علی سلطانهم لجوره قبل یسعهم ذلك اجاب وقال: ان کانو اثنی عشرالفاً و کلمتهم واحدة و سعهم ذلك و ان کانوا اقل ذلك لایسعهم ذلك فکانه یستدل بماروی عن النبی صلی الله علیه وسلم: انه قال لن یغلب اثنی عشرالفاً عن قلة اذاکانت کلمتهم واحدة ویقول ان رسول الله صلی الله علیه وسلم اخبر ان اثنی عشرالفاً لایغلبون بوعد النبی صلی الله علیه وسلم فالخروج علی السلطان الجائر لجوره لایکون سعیاً فی هلاك انفسهم فیسعهم ذلك و ان کانوا اقل من ذلك لم یتیقن لقلتهم و ان خرجوا ولم یغلبوا فضرهم السلطان الجائر بالاذی فکانوا ساعین فی اهلاك انفسهم الخ ذخیرة، کتاب الاستحسان ص ٨٣١.

والخروج علی ائمه الجوُرو الظلم جائز و هو قول اکثر الصحابة و التابعین و هوقول ابی حنیفة(رح) و مالك(رح) و الشافعی(رح) و داؤد(رح) و اصحابهم واحدیٰ الروایتین عن احمد(رح) الخ الامامة العظمی عند اهل السنة و الجماعة ص ٥١٨- ٥٤٠ و ماروی اذا التقی المسلمان بسیفیهما فالقاتل و المقتول فی النار محمول علی اقتتالهما حمیة و عصبیة کما یتفق بین اهل قریتین و محلتین اولاجل الدنیا و الملك و تمامه فی الفتح، ردالمحتار ص٣٤٠ ج-٣

ولایجوز القتال فی مقابلة اللذین خرجوا علی الامام الجائر اذاکان خروجهم لاقامة دعائم الاسلام لا لطلب الملك و الامارة فانهم الخ اعلاء السنن ص ٦٥٥ ج-١٢.

د پورتنیو دلائلوپه بنا ربانی شرعی امام او خلیفه ندی کوم شرعی او قانونی حیثیت نه لری بلکی د ظلم او فساد خور ورتکی ولګی په سرکی قرار لری او د طالبانو اسلامی تحریك د صالحینو یوه قوی ډله ده شمیریږی له دوولسو زرونه خو واره زیات دی د منکر او فساد د ختمولو او یوه سوچه اسلامی نظام د حاکم کولو لپاره پورته شوی ده د افغانستان ټول علماء له مسلمان ملت څخه غواړی چی ددی ولی مرسته وکړی ترڅو په ملك کی د ظلم او فساد خورشوی تغر ټول شی او اسلامی نظام حاکم شی وماذلك علی الله بعزیز و لاحول ولاقوة الا بالله العلی العظیم

دحمل ١٤ - ١٣٧٥ هـ ش کندهار افغانستان

خدمات دینی و اجتماعی علماء ...

م و دانش، روان عرفان و بینش جناب فضایل دستگاه و کمالات همراه مولوی مکرم محترم مولوی عبدالرؤف خان، دنیای بی وفا را ترك گفته، عازم داربقا گردید... مرحوم مشارالیه نه تنها در وطن عزیز مان، بلکه در بسیاری از صفحات دنیا، نادر الامثال یك عالم فاضلی بود، که در همه علوم عقلیه و نقلیه و فنون تصوفیه و ادبیه صاحب ید طولایی بودند. ضیاع ابدی این فاضل نحریر، الحق که از خسارات و ضایعات خیلی دهشتناکی برای عالم علم و عرفان وطن عزیز ما شمرده می شود...

علاوه بر این همه علم و فضل، حافظ جید کلام ملك علام بودند و در ادبیات یك خصوصیت ممتازی داشتند. از خامه، عنبر شمامه، خود شان هم قصاید پر فواید غرا و اشعار و ادبیات بسیار با معنی سر زده است. ولی افسوس که پایه، شصت و هفتم را از مرقاة عمر عزیز به تکمیل نرسانده، وطن را از دیدار و فواید خود بیشتر محظوظ ننمودند...»

این بود آنچه از جنبش فکري انجمن سراج الاخبار به ما باقی مانده و مطلع خورشیدی است که در تاریکی دسایس استعمار انگلیس فرو رفت. ولی طوری که در مباحث آینده، ما روشن خواهد شد بعد از پنج سال، نهضت اول مشروطیت در روشنی همین فکر به وجود آمد و محرر همین انجمن، در رأس حرکتی ایستاد، که براي روشنفکران آینده، مملکت و نضج افکا، سیاسی بسیار مفید برد و این داستان عبرت انگیز شنیدنی است که:

عشق از فریاد ما، هنگامه ها تعمیر کرد
ورنه این بزم خموشان هیچ غوغایی نداشت).

رشته سخن را از حبیبی صاحب گرفته عرض باید نمود جریده، (سراج الاخبار) به مدیریت و تحت رهبری جناب مولوی عبدالرؤف قندهاری بیشتر از یك شماره منتشر نگردید و بعد از توقف در سال ١٩١١م بنشرات مجدد خود به رهبری محمود طرزی آغاز و تا ١٩١٩م ادامه پیدا کرد. این جنبش فکري که از مسجد و مدرسه یی به رهبری ملا و مدرسی دینی غرض خدمت به دین و وطن علیه استعمار خارجی و استبداد داخلی به میان آمده بود در قدم دوم خود بدربار رسید و به دست سیکولری قرار گرفت و در دنباله، کارش علیه ملا و مسجد ایستاد. حکمت بس بزرگی است در کارهای خدا (جل جلاله) و دست درازی تقدیر است بر تدبیر که چنین مینماید اما باید فراموش نکرد که احیالی و خوش باوری های هم در میان بوده که چنین حادثه های ناخواسته و بدفرجامی را سبب گردیده و سیاه روزیها را ببار آورده است، اما چیزیکه واضح است آن خدمات علماء، و مشائیخ در عرصه های مختلف و از منه مختلفه برای دین و وطن میباشد.

▪▪▪▪▪▪▪▪▪▪▪▪▪▪▪▪

اعـــلان مفـقـــودی

سیدرحمن ولد سید میران، عمر ٢٨ سال، زبان مادری فارسی اصلاً باشنده، بی بی مهرو (کابل افغانستان) نسبت خلل دماغ از مدت یك و نیم سال به اینطرف از حوالی زیارت کاکاصاحب (رح) مفقود الاثر گردیده است اگر کسی را از چگونگی احوال موصوف اطلاعی باشد لطفاً به تیلیفون نمبر ٤٠٤١٢ دفتر مائین پاکی همرای محمد یوسف در تماس شوند و یا به آدرس: نوشار(نوشره ریستورانت) برای سید کاظم اطلاع دهند.

امیرالمؤمنین په حوزلس ...

د طالبانو د اسلامی غورځنګ امیرانو ته خوشحاله دی بلکی په دی لاره کی هر ډول قربانی او سرښندنی ته تیار دی تر [illegible] پوروسته وکیل عبدالله [illegible] وویل: هغه خلك چی تر [illegible] ګرځولی و لوی خدای(ج) و طالبانو د اسلامی غورځنګ له برکته له منځه یووړل او اوس زموږ مسلمان خلك په خورا امنیت او سلامتی خپل ژوند ته دوام ورکوی. ده وویل: زه د خپلی ولسوالی د خلکو په نمایندګی د کندهار د تاریخی غونډی د فیصلو ملاتړ اعلانوم او په دی لارکی د هر ډول قربانی او سرښندنی وعده درکوم.

په هلمند او لوګر کی ...

خبریال زیاتوی چی شرعی محکمی د استادانو او شاګردانو د ارزیابی په تشبیه کی هغه ته د قصاص امر واوراوه، د قصاص او حدود الله د تطبیق په دی غونډه کی د لوګر والی محترم مولوی محمدکبیر، د والی مرستیال حاجی قدرت الله، د محکمی رئیس مولوی فرقانی او امنیه قومندان مولوی مفکر حاضرینوته وینااوی وکړی او په اسلام کی یی د حدود الله د تطبیق او فایدی بیان کړی.

تحریك اسلامی طالبان سفر اخیر...

رغبت خویش بدون اجبار و اکراه اعم از اینکه به مناطق تحت تصرف تحریك طالبان باشد و یا به مناطق تحت کنترول سایر گروهها.

٤- رهایی آنعده افغانانیکه بدون گناه و جرم در زندانهای ایران بسر میبرند، و معلوم کردن جرم آنعده افغانهایی که نزد مقامات ایرانی مجرم شناخته شده اند و فراهم کردن لست و شهرت آنها به تحریك طالبان تا اقارب و وابسته گان آنها از چگونگی وضع اوشان آگاهی حاصل نمایند تا از این ناحیه رفع تشویش شان شود.

٥- رهائی آنعده طالبان که علاوالدین اوشانرا با خود به ایران برده است، درین زمینه مقامات ایرانی وعده دادند در صورتیکه ثابت شود که طلاب متذکره در اسارت علاوالدین میباشد به تحریك مسترد خواهد شد.

٦- شروع مجدد کار سرك اسلام قلعه، هرات که در وقت اسمعیل خان به کمك ایران در دست کار بود و دراین اواخر فعالیت آن متوقف افتاده بود.

٧- کمافی السابق همه اقلام مواد ارتزاقی به قیمت نازل بدون کدام ممانعت به افغانستان داده میشود.

٨- استرداد اموال و اجناس مربوط بیت المال که اسمعیل خان همرای خود به ایران برده است به تحریك اسلامی طالبان تا از ضیاع آن جلوگیری صورت گیرد.

خبرنگار ما می افزاید که در جریان این سفر هیأت تحریك اسلامی طالبان با مهاجرین افغانی مقیم ایران ملاقات کردند و به اوشان اطمینان دادند که به فضل ایزد متعال به زودیها در سراسر کشور امنیت تأمین و نظام اسلامی که ارمان ١٨ لك شهداء ما و شما میباشد نافذ خواهد شد ان شاء الله.

به تعقیب آن هیأت تحریك اسلامی طالبان از یك مدرسه مهاجرین افغانی دیدن بعمل آوردند.

در حین مراجعت به کشور جناب والی هرات سفر اخیر خویش را به دولت برادر ایران خیلی موفق آمیز و مهم گفتند، و طرف ایران هم نتایج سفر اخیر هیأت افغانی را رضایت بخش خواند.

دتخار په خواجه غار کی...

چی د دوی همدغه سلا مشوری او لیدنی کتنی ددی سبب شوی دی چی روسان بوګل بیا زموږ په هیواد کی د خپلو لاس وهنو لپاره لاره اواره کړی او دا دی بوګل بیایی د هوایی ډګرونو په جوړولو سره خپل دغه هدف ترلاسه کړ.

خبریال زیاتوی چی د روسانو په دغه اقدام سره د سیمی په خلکو کی د احمدشاه مسعود په باب سخته کرکه پیدا شوی او ده دغه اقدام په پرله پسی توګه غندلی.

طالبانو نه یوازی دافغانانو عزت وساته ...

د امیرالمؤمنین په توګه د ټاکل کیدو له امله محمدعمر (مجاهد) ته مبارکی ووېله ددین او وطن د خدمت په لارکی یی دلوی خدای(ج) له دربار څخه ورته د زیاتو بریالیتوبونو دوعا وکړه او وی ویل: دا د ټولو افغانانو لپاره د فخر خبره ده چی د لوی خدای(ج) په مرسته د افغانستان له نیمایی نه په زیاته سیمه کی د طالبانو اسلامی غورځنګ د خدای(ج) قانون نافذ کړی او پوره امنیت یی راوستلی دی، دی کارنه یوازی د افغانانو عزت وساته بلکی په ټوله اسلامی نړی کی یی د علماوو شمله هسکه او د مسلمانانو زړونه یی خوشحاله کړل. نو تاسوته پکار دی چی همیشه له لوی خدای(ج) څخه مرسته او نصرت وغواړی، له کبر او غرور څخه ځانونه وساتی او دخدای(ج) د بندګانو خدمت خپل شغل وګرځوی.

خبریال زیاتوی چی له شیخ الحدیث مولانا حمدالله جان سره راغلی هیئت هم پخپل وار سره داورونده مسائلو په باب ګټوری خبری وکړی او د طالبانو تر کنترول لاندی سیمو کی یی د امنیت او واو من ژوند له امله خوشحالی څرګنده کړه.

وروسته امیرالمؤمنین محمدعمر(مجاهد) د طالبانو د اسلامی غورځنګ د پیل کیدو او د اوسنیو سیاسی حالاتو په اړه اووږدی او هر اړخیزی خبری وکړی او بیا یی د درندو میلمنو پوښتنوته ځوابونه وویل، ده له مجاهد ملت سره د ربانی دغولوونکی سیاست په اړه میلمنوته معلومات ورکړل زیاته یی کړه چی موږ له هرچا سره خبروته تیار یو، خو ربانی د خپلی واکداری مشروعیت له لاسه ورکړی او هڅکله په وعده وفائه کوی، ځکه نو له هغه سره خبری کول کومه نتیجه نه ورکوی.

همدارنګه د درندو میلمنو هیئت پرون د طالبانو د اسلامی غورځنګ په خاص میلمستون کی دعالی شوری له سرپرست محترم ملا محمد حسن اخند سره وکتل او د اړونده مسائلو په باب یی ګټوری خبری وکړی. محترمو میلمنو ملامحمدحسن اخند ته د خپل سفر جریانات بیان کړل او د اسلامی شریعت په تطبیق کی یی د مسئولینو کوښښونه وستایل. په مقابل کی دعالی شوری سرپرست د میلمنو له تشریف راوړلو څخه مننه وکړه او بیا یی د اسلامی غورځنګ د فعالیتونو په اړه مفصل معلومات ورکړل او د طالبانو له اسلامی تحریك سره یی د پاکستان علماوو د همکاری مننه وکړه او په جهاد کی یی د پاکستان دعلماو خلکو مرستی او همکاری یادی کړی.

دنیکمرغه لوی اختر په مناسبت ...

په مناسبت د امیرالمؤمنین محمدعمر (مجاهد) په نامه د مبارکی پیغامونه را رسیدلی دی.

د حرکت انقلاب اسلامی افغانستان عمومی امیر الحاج مولوی محمد نبی (محمدی) د مبارکی پخپل پیغام کی ویلی دی:

د اسلامی تحریك امیر، امیرالمؤمنین محمدعمر (مجاهد) د عالی شوری محترم سرپرست او د علماء کرامو د مرکزی شوری محترم رئیس او محترمو غړیو

السلام علیکم و رحمة الله و برکاته!

په هیواد کی د نیکمرغه لوی اختر د رارسیدو له کبله زه دحرکت انقلاب اسلامی افغانستان امیر، د اجرائیه شوری د غړیو او مسئولینو له خوا د زړه له کومی مبارکی وایم، خدای(ج) دی دا اختر زموږ په هیواد کی د طالبانو د اسلامی تحریك د پوره بریالیتوب... پیلامه وګرزوی. آمین

د اسلام ددین دسنګر د پاسدارانو طلباء کرامو د بریالیتوب په هیله.

الحاج مولوی محمدنبی (محمدی)
دحرکت انقلاب اسلامی افغانستان عمومی امیر

دحزب وحدت د اجرائیه شوری رئیس محترم استاد محمدکریم خلیلی د مبارکی پخپل پیغام کی ویلی دی:

عالیقدر د اسلامی تحریك امیر، امیرالمؤمنین محمدعمر(مجاهد) او د طلباؤ د مرکزی شوری غړیو السلام علیکم و رحمة الله و برکاته!

زه د خپل ځان او حزب وحدت اسلامی دمرکزی شوری دغړیو او د افغانستان د اهل تشیع د غیورو خلکو له خوا د نیکمرغه لوی اختر د رارسیدو له امله د زړه له کومی مبارکی وړاندی کوم، دلوی خدای(ج) له دربار نه هیله من یم چی په افغانستان کی داسلامی اساساتو او غوره خلکو د پاکی ارادی ترڅنګ اسلامی حکومت قایم او د غمجنو خلکو لپاره د هوسا ژوند زمینه برابره کړی.

په ډیر احترام
ستاسو وروړ محمد کریم (خلیلی)
دحزب وحدت اسلامی د اجرائیه شوری رئیس

دمشرقی ولایتونو علماء کرامو پخپل پیغام کی لیکلی دی:

موږ د مشرقی ولایتونو (ننګرهار، کنړ، لغمان او نورستان) ټول علماء کرام دینی طالبان، قومی مشران او عام مسلمانان د اسلامی تحریك مشر امیرالمؤمنین محمدعمر(مجاهد) ته دلوی اختر مبارکی وایو، او موږ محترم مشرته داد ورکوو چی موږ د مشرقی ولایتونو علماء کرام او طالبان ستاسو مله او ملاتړ یو او هم ستاسو تر اسلامی قیادت لاندی د اسلامی اقدام د قیام په خاطر هری قربانی ته حاضر یو.

همدارنګه د هیواد له هری ګوټ څخه په [illegible] جلا پیغامونو کی امیرالمؤمنین مح[illegible]مر(مجاهد) ته دلوی اختر مبارکی را رس[illegible] دی، په هیواد کی یی د اسلامی نظ[illegible] د ټینګښت او د ګډوډی دله منځه تللو دوعاګانی کړی او په دی لاره کی یی د خپلو هر ډول قربانیو وعدی څرګندی کړی دی.

په دی لړ کی د پکتیا له ولایت څخه وزیر منګل په یوه ځانګړی پیغام کی امیرالمؤمنین ته داختر مبارکی ویلی اود خپل قام په نمایندګی یی د دین او وطن د خدمت په لارکی دهرډول قربانی ژمنه کړی ده.

هغه ورځ لیری نه ده چه ...

له ډیرو سختو مشکلاتو سره لاس او ګریوان دی خوله خپل خدای سره د کړی وعدی د ترسره کولو لپاره خپلی هلی ځلی جاری ساتی.

د هیئت د خبرو په پای کی امیرالمؤمنین هغوی ته په خطاب کی وویل: هغه ورځ لیری نه ده چه د کشمیر مسلمان خلك به د اسلام تر بیرغ لاندی خپل سرلوړی ژوند پیل کړی او له دغو ټولو مشکلاتو څخه به په بری سره نجات پیدا کړی. خو شرط دادی چی تاسوبه پوره زغم او حوصله خپل پیل کړه جهاد جاری وساتی، له اختلاف او ځان غوښتنی څخه ځانونه وساتی او په هیڅ ډول خپل یووالی او اتحاد له لاسه ورنه کړی، نو تاسو باور ولری چی کامیابی ستاسو په برخه ده، تاسو باید زموږ د خلکو له اختلاف او ځان غوښتنو څخه سبق زده کړی ځکه داکوم مشکلات چی موږ ورسره لاس او ګریوان یو بوازینی علت یی زموږ بی اتفاقی او نفاق دی.

د ګډون بیه	شپږمیاشتنی	کالنی
پاکستان	Rs. 200	Rs. 400
د خلیج هیوادونه	SR. 150	SR. 300
اروپا او امریکا	$: 75	$: 150

په غزنی ولایت کی ...

ښاروالی، فرقه، څارندوی، قضاء، حج او اوقاف، څارنوالی، تعلیم او تربیه، عامه روغتیا، اطلاعات او کلتور، مخابرات، زراعت، ارتباط خارجه، دافغانستان بانك، سره میاشت، انحصارات، ترانسپورت، ترارسه پوری د ولایت ټول ارګانونه ښه کار کوی.

ددی پوښتنی په ځواب کی چی په غزنی ولایت کی مختلف قومونه میشته دی د هغوی مرسته او همکاری له تاسی سره څنګه ده؟ عارف صاحب وویل: په غزنی ولایت کی میشته قومونه، پښتانه، تاجك، هزاره، او حتی هندوان د طالبانو د اسلامی تحریك سره مرسته کوی. او موږ د هغوی سر، مال او ناموس ساتلی او هر ډول امنیت مو برقرار کړی دی. د طالبانو او اهل تشیع ورونو تر منځ بشپړه تفاهم او همکاری موجود ده.

ددی پوښتنی په ځواب کی چی د غزنی په ولایت کی تاسی تر اوسه پوری څه کارونه تر سره کړی؟ عارف صاحب وویل:

د غزنی ولایت ملکی روغتون، د ښهر د مینځ سرکونه او ځینی نور ښوونځی ترمیم شوی دی. په تعلیمی برخه کی دینی مضامینو خاصه پاملرنه شوی ده. تیر کال (١٣٧٤) کی یوه دینی مدرسه په ځانګړی توګه د کوچیانو د پاره تأسیس شوه چی په آینده کی به دغی مدرسی ته نوره هم ښه توجه وشی خو کوچی طبقه له تعلیم او تربیه سره آشنا کړو. د ښارانو په برخه کی د وسنائی د په نوم اونیزه تیرکال د حوت په میاشت کی د اطلاعاتو او کلتور د ریاست له خوا خپرونی پیل کړی، او د تل دپاره به د اونیزی په توګه خپریږی.

په غزنی ولایت کی د امنیت په باب عارف صاحب زیاته کړه چی د طالبانو د اسلامی تحریك د راتګ نه مخکی دلته امنیتی حالت ډیر خراب وو، پاټکونه ډیر وو، کله کله به دښار په مینځ کی ډزی کیدلی نیول کیدل، د خلکو عزاده جات به په زور بیګار کیدل، له خلکو څخه به د ټوپك په زور پیسی اخستلی کیدلی، خو اوس دلوی خدای په فضل دلته بشپړ امنیت تأمین دی، ټول خلك د قانون په وړاندی برابر دی. خلك د اسلامی عدالت نه برخوردار دی. په چا باندی څوك زور او جبر نشی کولای.

ددی پوښتنی په ځواب کی چی دکابل اداره غواړی په غزنی کی نا آرامی را مینځ ته کړی ستاسو اندازه څنګه ده؟ عارف صاحب وویل: دکابل اداری سره دومره توان نشته چی د تحریك په خلاف څوك وپاروی. د افغانستان عام خلك په دی پوهیږی چی دکابل اداره د فحشاء، فساد، رشوت او هر ډول بی دینی سر چینه ده، د روس، هند او نورو اسلامی هیوادونو د لاس اله ده، ځکه څوك ورسره مرسته نه کوی او نه څوك غواړی د طالبانو د اسلامی تحریك په خلاف ځانته د جنګیدلو اسلامی جواز ورکوی. کیدایشی یو شمیر مفسد او مفاد پرست عناصر د پیسو د اخستلو په خاطر د کابل اداری نه بانی ووهی خو د ولایت عام خلك په ایمانی او عقیدوی توګه د تحریك ملګری دی.

مبارزه، قاطع طالبان در راه جلوگیری (مواد مخدره) و مکلفیت های جامعه بشری در قبال آن

یکی از عوامل عمده و بنیادی تهدید کننده، کیان و بنیان اخلاقی و صحی جامعه، بشری که بسطح بین المللی مبارزه علیه آن در دست کار است (مواد مخدره) میباشد. که به شکل یك خطر جدی در جامعه، انسانی تبارز نموده و در راه جلوگیری، قلع و قمع آن به سطح کشوری و بین المللی ادارات و مؤسسات به خصوصی اندر کار میباشند. که متأسفانه تاحال پیروزی قاطع در این عرصه بدست نیاورده اند.

در کشور ما از مدتهای طولانی به اینسو کشت و زرع تریاك و افیون مروج بوده و هیچ حکومتی در گذشته ها در راه جلوگیری از آن قدمهای مؤثر نگذاشته اند. و حتی برخی از سرزمین کشور ما شکل منحوی کشت زار های افیون و تریاك را به خود گرفته بود.

بعد از مسلط شدن رژیم کمونیستی و در نتیجه، آن تجاوز مستقیم روسیه برکشور و در مقابل آن قیامهای جهادی ملت مسلمان افغان، عملاً به سلطه و اقتدار نظام مرکزی بر اطراف و اکناف کشور پایان داد و در گوشه و کنار کشور، حاکمیت گروهی و تنظیمی مجاهدین به میان آمد در ابتدا، جهاد این حاکمیت های مقطعی و غیر ثابت مجاهدین که روزی بدست یك گروه و روزی بدست دیگری قرار میگرفت با داشتن روابط و ضوابط جهادی مبتنی و متکی بر معیار های دینی و اخلاقی سبب دیگرگونیهای مثبت و صالح در میان مجاهدین و مردم گردید و در راه جلوگیری از مفاسد اخلاقی و مظالم قدمهای مؤثری گذاشته شد و اکثر شعایر الله احیاء گردید و با اکثر مظاهر منفی و الحادی تمدن غربی مجاهدین بریدند و علیه منکرات اخلاقی ضد دینی و بشری اقدامات مؤثری صورت پزیرفت که این دیگرگونی و تغییر اثرات نیکوی خود را بر همه ابعاد زنده گی فردی و اجتماعی ملت ما گذاشت که در این جریان در کشت و زرع (تریاك و افیون) هم قلت قابل ملاحظه نی رو نما گردید.

آهسته آهسته بعضی از گروها به استفاده از کومکهای گسترده، مالی و نظامی اطراف ذی نفع خارجی که غرض ملحوظات به خصوص، نظامی، سیاسی و اقتصادی خود به جهاد توجه داشتند در صفوف مردم نفوس کردند و در پی استحکام پایه های گروهی خود شدند. که دراین رقابتهای شدید میان گروهای جهادی سیاسی که مالامال از امکانات مالی و نظامی بودند، با داشتن ایدیالوژی واحد سیاسی در گرفت و این در گیریها همه، صورتهای مجاز سیاسی و اخلاقی رقابت را زیر پای نمود و چیزی از منکرات اخلاقی و دینی نبود که در جریان این کشمکشها به میان نیامده باشد، این کشمکشها و رقابتها روز بروز شدت اختیار کرد و عملاً افغانستان را به ساحات و مناطق مختلف قدرت تقسیم نمود.

در اثر این رقابتها رجحانات معنوی و دینی جای خود را به رجحانات مادی خالی میکرد و عطش جاه و جلال دنیوی و جلب مادیات در مجاهدین افزونی میگرفت و گروهای محلی غرض حفظ و توسعه، قدرت و سلطه خود به هر روا و ناروای دست میزدند که از آن جمله به کشت و زرع تریاك و افیون توجه مزیدی مبذول داشتند و از این ناحیه افغانستان بیك منبع مهم تولید کننده، مواد مخدره بسطح جهانی مبدل گشت.

ادارات بین المللی که به ارتباط منع و جلوگیری از مواد مخدره داخل کار و فعالیت بودند از این رهگذر اظهار تشویش جدی میکردند، و دول غربی در رأس آنها امریکا، تلاشهایی غرض جلوگیری از آن در راه انداختند که اکثراً جنبه، تشویقی داشت تا اگر توانسته باشند در بدل کمکهای مالی و زراعتی به دهاقین و عاملین کار و بار مواد مخدره از کشت و تولید آن جلوگیری نمایند، در این راستا امریکا، به معامله های پولی با گروپها و قرتهای محلی که کشت زار های مواد مخدر را در اختیار داشتند خصوصاً در جنوب غرب کشور دست زد، که هیچ نوع کاهش و کمبودی را در کشت و تولید آن باعث نگردید و روز به روز به تشویش جامعه، بین المللی از این ناحیه افزوده میگردید.

و با تحمیل اداره ائتلافی بر کابل نه تنها در کشت و کنترول مواد مخدره هیچ نوع تبدیلی مثبت رونما نگردید بلکه اداره، ائتلافی خود عامل بزرگ توسعه و قاچاق مواد مخدره گردید.

و از جانب دیگر استعمال مواد مخدر به خصوص چرس در داخل کشور بطور سرسام آوری روی به افزایش بوده و بیشتر از ٥٠٪ ملیشه های اداره، کابل و گروهای مسلح را معتادین چرس تشکیل میدهد.

با رونما گردیدن جنبش اسلامی و انقلابی (تحریك اسلامی طالبان) نه تنها تبدیلی و دیگر گونی عمومی در وضع ناهنجار و اسفناك که همه، هست و بود مادی و معنوی کشور را دست خوش هوسهای ناسنجیده و لجام گسسته، دیوانگان قدرت نموده بود، ارزشهای دینی و اخلاقی و افتخارات ملی و تاریخی ما را مورد تاخت و تاز قرار داده بودند رونما، گردید و در بیشتر از نصف کشور حاکمیت شریعت و قانون تحکیم و تنفیذ شد و اهالی آنجا از نعمت امنیت و مصئونیت سر و مال و سایر حقوق انسانی و بشری برخوردار گردیدند، بلکه در راه جلوگیری، قلع و قمع مواد مخدره نیز پیروزیهای قاطع بدست آوردند که تاریخی و مهم میباشد.

مؤسسه ها و ادارات بین المللی که در راهای جلوگیری از مواد مخدره بسطح جهانی و منطقوی فعالیت دارند و ژورنالیستها و خبرنگاران خارجی از کشور افغانستان بازدید بعمل آورده اند همه اعتراف دارند که طالبان در دو مورد (کنترول مواد مخدره و تأمین امنیت)، پیروزیهای راستین و بزرگی کسب نموده اند، و بالعکس منابع متذکره میگویند مناطقی که تحت تصرف اداره، نام نهاد کابل و سایر گروهها میباشد کشت و تولید مواد مخدره در آن جاها بطور سرسام آوری رویه فزونی میباشد.

چنانچه در راپور اداره، U.N.D.C.P که در این اواخر در پشاور بنشر رسیده آمده است که: (از سال ١٩٩٤م به اینطرف در کشت و زرع مواد مخدره در ولایت بدخشان ١٦٤٪ افزونی رونما، گردیده است. و راپور می افزاید که در ولایت کنر در کنار جاده ها و سرکها افیون و تریاك کشت گردیده است) حال دیگر ولایات و مناطق را که تحت کنترول اداره، کابل وسایر گروهها میباشد از این قیاس کرد. قابل تذکر است که ولایت بدخشان تحت اثر گروهای وابسته به ادره، کابل قرار دارد و ولایت کنر در اختیار گروههای مختلف میباشد.

دریك خبریکه روز یك شنبه مورخه، اول ثور ١٣٧٥هـ ش روزنامه، محلی پشتو (وحدت) پشاور از قول جنرال دوستم بنشر رسیده است در آن گفته شده که: (اداره، کابل به قاچاق مواد مخدره از طریق تاجکستان اقدام نموده و از آن طریق به همه، جهان هیروئین صادر مینماید).

چنانچه چند روز قبل از این ادعای دوستم رادیوی B.B.C و سایر رسانه های خبری جریان برخورد مسلح میان قاچاق بران مواد مخدره ومحافظین سرحدی تاجکستان را بنشر سپاریدند که در آن برخورد چند تن از قاچاق بران کشته شدند.

روی اعتراف مؤسسات بین المللی و آژانسهای خبری جهانی تقلیل قابل ملاحظه ئی در کشت و استعمال مواد مخدره در مناطق تحت کنترول طالبان رونما، گردیده است. و آنها قادر گردیده اند که در این مبارزه، حیاتی بشری به کامیابیهای دست یابند که برای جامعه، جهانی نوید خوش آیند و قابل توجه میباشد، گرچه تحریك اسلامی طالبان مبارزه علیه تمام منکرات و اعمال ضد دینی و بشری را از وجایب اسلامی و انسانی خود دانسته به مکلفیت های ملی و بین المللی خود به این ارتباط توجه همه جانبه دارند آنچه از معنویات و مادیات در توان دارند در راه ازاله، تمامی انواع منکرات بکار گرفته اند. هیچ ملحوظی تحت عنوان مصلحت مانع از حرکت اصلاحی و انقلابی آنها نخواهد شد. اما به جامعه، بشری هم پاره، از مسؤلیتها و مکلفیت به این ارتباط متوجه میگردد که باید به آن توجه نماید و آنچه در توان دارند در این مبارزه، پر اهمیت بشری تحریك اسلامی طالبانرا یاری رسانند تا تحریك از طریق نورمال و بدون فشار و اکراه فوق العاده همکاری زارعین، کسبه کاران و مالکین اراضی، کشت مواد مخدره را جلب نموده به مشکلات و خواستهای جائز و صحیح آنها جواب بدهند زیرا یکی از منبع عایدات زارعین و مالکین اراضی که جواب گوی مایحتاج زنده گی اولیه آنها میباشد همین مدرك پولی است که از فروش مواد مخدر بدست میاورند، اگر بدون بدیل و عوض اوشان از کار و کشت مواد مخدر جلوگیری شوند نتائج صحیح و دوامدار بدست نخواهد آمد. جامعه، جهانی به خصوص مؤسسات و اداراتیکه وظیفتاً از طرف مؤسسه، ملل متحد و سایر مؤسسات عالی بشری به این ارتباط دست اند کار اند باید توجه عاجل و همه جانبه به این مسئله، حیاتی نموده در طرق فنی و معقول جلوگیری و مبارزه علیه مواد مخدره تحریك را یاری رسانیده مشکلات مردم را جدی در نظر بگیرند و آنها را از طریق کمکهای لازمی مالی و دادن وسایل و ابزار زراعتی، تخمهای گندم، کود و سایر مواد تشویقی و ترغیبی به طیب خاطر و رضاء نفس به این مبارزه جلب نمایند و الا مسؤلیت رکود و خدای ناخواسته سقوط این مبارزه، بزرگ حیاتی در آینده به دوش جامعه، بشری و به خصوص به عهده، مؤسسات میباشد که به این ارتباط داخل فعالیت میباشند و بودیجه، گزاف مالی ملل متحد در اختیار شان قرار دارد.

و نیات صحیح و سالم دولتها و قدرتهائیکه مقدرات جهانی را خواسته و ناخواسته تصاحب کرده اند وبهانه جویی کرده تحت عناوین (مبارزه و جلوگیری از تروریزم و مواد مخدره) دروازه، هر حریم را دق الباب میزنند و پای بر دیوارش میگذارند و بی مورد و بیجا تهدیدش میکنند و افراد مطلوب خود را به محاکمه، کشور های خویش میکشانند هم معلوم میگردد طوریکه معلوم گردیده است: که در این مبارزه، پیروزمندانه، تحریك اسلامی طالبان به چه مقدار و انداز وجایب و وظایف اخلاقی خود را مد نظر داشته تحریك طالبانرا در این راستا همکاری اخلاقی، مادی و معنوی رسانیده باشند! به یقین گفته میتوانیم که جواب منفی بوده و هیچ چیز در میان نمیباشد.

پس معلوم میگردد که هدف از عنوان کردن (حقوق بشری، تروریزم، جلوگیری از مواد مخدره) به جز از یك بهانه، مؤثر و برنده برای قدرتهای استعماری در راه مداخله در مسائل داخلی دینی و سیاسی کشور ها ملتها و نهضتها چیز دیگری نمیباشد.

مکرراً یاد آور میکردیم که جریان این مبارزه، بزرگ حیاتی (مبارزه علیه مواد مخدره) تنها به عهده، تحریك گذاشته نشود بلکه جامعه، بشری وجائب خود را در نظر گرفته بالاتر از مصالح و اهداف به خصوص سیاسی و ایدیالوژیك خود عمل کرده بشریت را یاری رساند. ●

یادونه

ښایی ستاسو ایمان به اجازه در نکړی چی دا ډول سپیڅلی پاڼی په ناوړو ځایونو کښی وغورځوی.

(اداره)

SHARIAT WEEKLY
Publisher : Islamic Movment of Taliban of Afghanistan.
Editor -in- Chief : Movlavi Ahmad Jan.
Tel : 840378
PAK - RUPE A/C. CD. No. 1694 -69.
Habib Bank LTD. Tehkal Bala Branch (Code 0267)
Peshawar, Pakistan